

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګلاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين «خادم»

د پښتو ټولنې دداﺋرة المعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل عمومي مطبعه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! دبهار گلونه شويدي كه نه دي ؟

«رحمان»

* * *

دسونډك مونډك سپلى اخرى كيږي پهبلبلو زېرى وكړه : بيا بهاردى

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبلبل يا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړېدلی
ستړګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلی خادم په زيار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندی کېږي ، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو د زړه په وينو روزلی شوی دی.

څنګه چه تر اوسه پوري د پښتو ژبی په ادبياتو کښي داسي يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه د پښتو يو پياوړی اديب دی) په دي کارګوتي پوري کړي او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه د دی فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايي او په دي انتخاب ده ته تبريك ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو پرد يسانو روح ښاد اوياد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بيلتون کښي ويل :

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدايه غواړي چه داسی ډېر آثار پښتنو ته وړاندی کړی.

(عبد الرؤف «بېنوا»)
د پښتو ټولنی عمومی مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر خه دروه په ګلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛دزړه وینی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی څښتن حمد او ثنا وایو . او دده په هغه استازی چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل او لادئی، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه رضامندی هم په دې کښې ده »
خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپ ېږی او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلمونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی ، دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه مایه ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره می ترې دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو دیوې ، انتخاباتو ته هم نه ده ورته .

او داله دې کبله چه د پښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسی مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجی توروُ یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ور کړی شوی دی ، نو هر څو مره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره د ژوند او زندګۍ د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی ؛ او په درنه سترګه به ورته و ګوری !

کابل - تند وز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښېږي تو له ژوی په ځاری کښېږي
د لته دی د غرو لمنی زمونږ کښېږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لنږ زمونږ اور بل دی وور کور ګی دی، وور بورجل دی
مینه ستا کښېږي مونږ مېشته یو د بل چا په ملک تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده د مهر وو ده له تا ده
دا یا لنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بېټ بابا »

۞ ۞ ۞

پر لوړو غروهم په دښتو کښېږي په لوی سهار په نیمو شپو کښېږي
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښېږي یاد وېر ژلیو په شپېلو کښېږي
ټول ستا دیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی ډېر ښه خواته په خندا دی
ترنگ چه خړدی په ژړا دی دا ټول اغېز د مینې ستا دی
توله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پاسه پاسه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږ میه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پرتمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د اپلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسک آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنگ : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی      دړوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا کړېږی      ستر گی لیدو ته یی هېښېږی
لویه خاوند دا ټوله ته یی
تل دنړی په ښکلیده یی

خاونده! ښکلی ستا جمال دی      ښکاره یی لوریه لور کمال دی
کهورځ کهشپه که پېړی کال دی      ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې دا ستا دمینې کوردی      سوی دعشق پهسوځندا وردی
رب یی وتاته په هر لوردی      بیلهدې هېڅ دیورك یی پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نهوی دغه نور بر باد دی

پهغرو کښې ستادعشق شپېلکی دی      ددې نړی په عشق سمی دی
کهغټ که ووړ کهپنده نری دی      ستا د جمال بحری هر شی دی
چه پر دنیا مې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځکه وه تورتم ؤ      تیاره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نبی آدم ؤ      ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چهشو ښکاره ښکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یی رڼا شوه

زه چهخر گند پردې دنیاشوم      د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم      له خپلی ستمی را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګریو ، ولې «متی» ژاړی      سورې یی اوری غاړې غاړی
څهغواړی،څهوایی، څه باړی      خپل تون او کورو کلی غواړی
چونهی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یی دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

لغات ـ هېښ : حیران ، تون : ځای ، چونهی : بلبل ، بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
ئن پروربلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي نزموږی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکلیو
اضطراب د حرص مي کړي له زړه گی ارې
که مي نه فاشوي سرزید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گئ په آب د چرخ نکړم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب يې په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل يې و دیدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو يې زما نصیب لکه لاله کړه

په اوبو کښې يې د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود يې مځکې سر دی لگولی

الله مي رب دی زه يې مربوب یم
غرق په اوبو کښې کله اوبه وینی

د ده په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پربوځی
چه کشور د افغانانو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په داور کښې دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښې د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمرسپین دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا »

نن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښې اورلره مکان دی
هم يې زوړندپه ر کوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت يې نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر يې عمر یوزمان کړي !
د فلك په څېر مي توره د زبان کړی !
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه د رحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرونسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ نزیې په معنی نیوهېږو «خادم»

روغتون گلونو(۵۲۵) ب سردار محمد ح سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم ه اجراَئیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ ـ ۸ ـ ۲۰ ع

الهي د مينې درد را / کرم د ل آه و ناسور درا
خلاص کړه ماله بې دردۍ / له دې هستي د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه / آتشي زما مينا کړه
«کاظم خان شیدا»

پر هر ځا چه حق یاد نشي ناتمام دی / پر کاغذ اول دده ثنا م قلم ږده
«دوات لواني»

## ب: داستاځی په مینه

که رڼا ده پیروی د محمد ده / کنه نشته په جهان بله رڼا
«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر ګي چه دزړه مي پري بينا شوي / پر پدي د محمد آخر زمان خوبن
«عبدالعظيم رانيزي»

توره تاريکي تو له لدي جهانه لاړه / نور دپاك رسول چه په جهان کښې شه پيدا
«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ / چه مختار ؤخود په ستورو کښې مهتاب
«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته / شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار
«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکي تو له له دي جهانه لاړه / نور دپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا
«میانعیم متی زی»

په زرګونو انبیا تردنیا تیر شو / محمد غوندي بل نه ؤ پیغمبر هیڅ
«دولت»

## ج: عشق ...؟

هسې پټ ګرځم دا زیړ رخسار له خلقو / لکه زر چه څوك له خلقو پټ پنهم ږدي
راحت نه دی بي زحمته چا موندلی / کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدي
زه هر ګوره خپل صنم پوري شرمیږم / برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدي
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږي / داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدي
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سربښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سړی بېدار کاندي لـه خوبه

دا په عشق کښي سهل کاردي دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نـدی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي دسروشونځوشیریني وی
درحمان په عاشقی کښي سترګي وشوي

د خپل ځان په وینو سو رلـکه انار شه
څوك چه وایی عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نـفس لـه خاصیته منـز ه دی

کاردستر ګو به څوك څرنګ پدهانـکـا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښي رب کیښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمـانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه بـاندی زرداغونه جوړ شی

چه دیـار لـه داغه آه کـاهغه ګر م دی
«خوشحـال ختـك»

زه تر عشق جار ښږم : تر هغوچه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کـا په زړه کښي
هی دخدای دیـاره تفحص رایسی مکړه

واړه عشق یکـار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ بري نه یو هیږم عشق یو څه سوزو ګداز دی
پلارته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـارنه کا

فاسقان به په خپل زړه کښي اری غلا
« خوشحـال ختك »

ځینی هـوس کـامینـه پـه باغ لـری
داد واړه ګرو هـه بوالهـو سـان دی

څوك می پسر ستـه حب دا یـاغ لـری
عـاشقـان مینه د زړ ه په د ا غ لری
« عبدالقـادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کـارو بـار کښي

د خپل ځان پهسودو زیـان نه یم هر ګـز
« عبد الحمید مهمند »

که هر څـومي تندتېزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال د مینـی پـا تـی
« میـا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هیـڅ
« صدرخان ختك »

عـاشـق ګرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیتـه
خالی ندی لـه تهمتـه
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کېږي
چه تمام دعشق په اور وسو متين شو
«دولت لوانی»

معرفت ځني پيدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصا ری»

دغه عقل چه په عشق با ندي شيدا شو
دعرب په مينه گوره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلی د عشق مخ د کل عالم دی
ودرياب ته ځی که سيل له هر جا پاڅی
« مرزا حنان»

په هر داغ می دخپل زړه هسی باوردی
چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ
« عبدالحميد مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
« عبدا لعظيم را نيزی »

دسيماب په شان په لاس کښې نيوی نه شم
عشق را هسی گرم هم نرم هم لطيف
آئينې غو ندی هر ولی هر نا ولی
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکليف
« شمس الدين کاکړ »

هر يو زړه چه شی پيدا غه پکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه با طل دی
« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوي
په سراب دځان مشغول کړ ، له دريابه
هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
کله کېږی په لښکرو په افواج
« خوا جه محمد بنگښ »

جريده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بې ر فيقه ، بې پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه پيلتون ياد کړم په خپر دادو فرياد کړم
څکړم چاو ته فرياد کړم ، نيکخواه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وينې به تل څښمه
څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد پدا خپل رزق يم ، مبرا په زړه له فسق يم
واړه سرتر پا په عشق يم ، پوگاه نه لرم بی عشقه
دافقير دولت نفسی يم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بيامرزه عاصی يم ، گناه نه لرم بې عشقه
« دولت لوانی »

عشق دی دا که يوفساد دی نه پوهېږم
په جهان کښې چه داشورو شر پيداشه
بيا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پيدا شه
« عبدالرحمان مهمند »

بادشاهانو که قصرونه کړه آباد — ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی — لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیر استاد دی — چه به نه دی بل دا هسی پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی — چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه — نه انګور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی — چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کوګل ستر ګی په نم کښې — عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دایو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم — خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دښتګک او دبلبل ترمینځ حیران یم — مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسی رنګک مقام باندی قائم کړم — چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهېږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه — خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خود څر ګندوی لکه صبح به جهان کښې — هر ګوهر وان چه به یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی — هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی — هر کلام چه له رحمانه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق — لامې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه — پوهېدلی په تدبیر وم د دبیر کېج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې — د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کېج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی — لېز د عشق له لاری مه بیا په بهر کېج
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه — مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی ناصحه! — دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی — په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په ځینو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) د انګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی — یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په عاشقی کښې — عاشقی دا هسی کله ده ویریا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول — براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا — په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځځه نه ځی — واقعی د تورو سترگو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم — دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې — لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد شکلیو دپا ولیو شرنگها ر دی — یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره بون دعشق په لاره گران دی — دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی — عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره — خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینی نه وی باندی شوی — هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی
« ملا جمعه »

# عزلیات

که څوك يار په جهان غواړي يار دي دا    يار دي دا که دجهان سنګار دي دا
خيال دز افو يی زما له زړه چا پير شو    که ترګنجه چا پير شوی مار دي دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پيدا کړی    د جملو ؤ مخلو قا تو پلا ر دي دا
تر عشق غو ره بل څه کار په دنيا نشته    تر همه کا رونو غو ره کار دي دا
بل بلبل به د ګل نوم ا خستی نه ؤ    که خبروی چه ګل نه دی خار دي دا
بيا را تله و دی جهان ته بل وار نشته    بل وار نشته بل وار نشته وار دي دا
د حباب عمر دي وګو ری چه څه دی    که څوك شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره    ستا به عشق کښي همی خوار زاردی دا
« عبد الرحمن مهمند »

چه يی و ليد و ستا حسن بې حسا ب    له دي قصد ه تاو پيدا شو د آفتاب
په آرزو يي د نرګس ستر ګی څلور شو ي    غنچه سره دزړه په وينو شوه غرقاب
ستا به غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي    که خيمی د ی سياه پوشي سره طناب
که دي زلفي به مخ پيچ وتاب شوي ښايی    وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت به هله له خوبه ويښ شي    که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه با ده در يا ی شور کا    د فلك به جام به مست کله مخمور کا
آرا سته وی تل محفل د خند ه ر و يو    زمانه به د ګل جام څرنګه نسکور کا
چه په لاس کښي يی تل چوب لکه شانه وی    بی افسونه به نيو ل د تور منګور کا
د لتنګی کړم لکه ګل به خندا ور که    که می بل دصبا باد په خونه اور کا
چه په سر يی سبز آسمان زری دستار زدی    اعا قبت يی لکه شمع بيا سر تور کا
لکه ګل کړی ګران بار تر دا منئي    باد دي څه لکه غبار به کتف سور کا
« کاظم خان شيدا »

که ښکا ره زما خا طر د لاله داغ کا    په زړا به ستر ګي سري د ګلو باغ کا
د حباب غونه ي مي ډك به آه سرد کړ    څوك زما په ګور به بل څرنګه چراغ کا
افرو خته يو وی محفل په شان دشمع    چه سوخته دبل په کار کښي خپل دماغ کا
د ګر دش نو بت يی هيڅ به ما د ا نشی    که سا قی د ز ماني ، فلك ا ياغ کا
زنګه که هر کله «شيدا» دتيغ جوهر خوری    دمګس به بال به څرنګه استفراغ کا
« کاظم خان شيدا »

چه می وليد ه ا برو به مخ ديار کږ    له تعظيمه ور ته زه شوم په تلوار کږ
کږي ورو ځی کوږ با نه کږي يی ز لفی    مناسب دی له کږو سره رفتار کږ
مار به دا سبب مد ام کږ فتا ری کا    چه يی وليد ه دا ستا د زلفو مار کږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې ژړا خلي اتر له همنشينه — په سبب د کنزي ښي شي‌سم بازار کج
چه معما ري اول خښته کنزه کښېږدي — بيا ترسره پوري ځی هغه ديوار کج
ژربه وا چوی بار دار چار پای په خاکښ — که يې يو ځله خوك وځکوی مهار کج
هيڅ جواب د پيغام نه را ځی ديار ره — پسې زما شوه تورليمه په انتظار کج
« شمس‌الدين کاکړ »

خوږ ژوندون راپورې هسی کړ هجران تريخ — لکه حال وی پر بند پاتورد زندان تريخ
تو خطان چه د عاشق له ژړا بد و دی — پرسبزه باندې نا وخته وی باران تريخ
په و صلت کښی له رقيبه نه خلا صيږم — پرموسم د گل اوقات شی دباغبان تريخ
می حرام دی په مجلس کښی چه يار نه دی — بی له گله وبلبل ته شی بوستان تريخ
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خيست — لا تر اوسه مي په هغه دی دهان تريخ
که فرهاد ته شيرين غم د شيريني دی — داستا غم کړ شيرين عمر پرحنان تريخ
« د مرزا حنان »

چه مي يار وليد په سيمه د اغيا ر گډ — له غيرته می ليمه شوه په خو نبار گډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی — خدای دنه کا مېنگير کے په‌لاله زار گډ
په اميد د زلفو و نښتم په دا م کښی — رو هيلي وم ساده د ل په هندو بار گډ
ددېدن په گدا ئی کښې مي ننگ نه شی — د ر و ېز گريم د بتا نو په با زار گډ
د و فا د گلو پيا نی پکښې نشته — کاشکی نه وی زه ددهر په گلذار گډ
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم — چه په کلی په کوڅه شوم د خپل يار گډ
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غی په مخ د گلعذ ار — که غا لب شوه په کشمير باندی کفار
سپين رخسار يی په تورخط کښې هسی پټ شو — لکه پټه چه معنی وی په اشعار
زما نه به بی سپين مخ دا هسی تور کا — چه غرض اری د بل په کا رو بار
هر کارسازن په خپل کار کښی درمانده دی — اوبه کله وداي شی گرځ دخپل رخسار
« شمس الدين کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را ځغه يوود — کور ز ما دصبر د ي سيلاب را ځغه يوود
رنگ په رنگ ژړا کړم لکه‌نی ديار لغمه — زړه مي په يوه نفس احباب را ځغه يوود
نه مي را برسېره کړ گوهر دعشق له بحره — زيات يی لاآرام لکه حباب را ځغه يوود
تل چه يی هوس کاندی‌سره لاس وخونريزیءته — سري د هغو ستر گو قصاب‌را ځغه يو ود
يوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو — عقل يی له ميانه په شراب را ځغه يوود
وا چولم يار د جدائی په سره ديگ کښې — روح يی زمادځان لکه گلاب را ځغه يوود
هيڅ يی نظرونه کړ ز متا وخاکساریءته — زړه مي سيا چشمو په شتاب را ځغه‌يوود
سيينه‌خوله‌ديار چه‌په‌خواست‌زه‌شمس الدين‌غواړم — خواست دهري ورځي دمخ آب را ځغه يوود
« شمس‌الدين کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه گوره چا یووړ  په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شو بی ارا مه  چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم  زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو  سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مې د زړه ؤ  نن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنه کړ  ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم  زړه بېپروا که شهها یووړ
قراری دزړه مې نشته  بېقرار ز لفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا  احمد غم دا شنا یووړ  «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افگار ساتم همیش  هسې په سینه کښې گویا مار ساتم همیش
زلفې دې سنبل مخ د گلاب ستر گې نر گس دی  زه بانديې باغبان یم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سې نه چه پرقلب مې یېرزو نه شی  ځکه یه ځیگر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ېنږی چه مجلس لره ور دروم  پس له دي به زه نور ځان کنارساتم همیش
عکس درخسارچه دې زما په زړه کښې گرزی  زه په خپل ځیگر کښې سورا نگارساتم همیش
زړه مې ستا له غمه همېشه آه و فغان کا  زه په خپل وجود کښې دابیمار ساتم همیش
ستر گې مې څلورشی ستا پر خواچه وعده و کړې  زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خطبه مخ د صنم راغی که سپوږمې شوه په هاله کښې  دایی غابې په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنگ سحروجادو کا په نظر د شهلاستر گو  نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنگاله کښې
لکه وښلی مرغی په سست دام د سلو لومو  هسې زه پر ښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دازما له غمه شین زړه یکښې خیال د یار دلبو  هسې رنگ زیب وزینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ماویل عین گټ گل دی دغنچې په لمن لښتې  که مې کوت یو گل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښې
ښکلی مخ کا ولې ناسته ، په مجلس د رقیبانو  په جوار دسپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کښې
ستر پایه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم  ځکه یم مدام داهسې په فریادو په نا له کښې
که یار غوادي هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده!  دایه دا چه درمونده شی په دریاب نه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم  له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه یوهېږم چه داهسې چارې څوک کا  لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومې ستر گې کوم بانړه کومه غمزه ده  دوب شهید غوندې په خاک اویه خون چا کړم
توان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ  په فتنې د تورو ستر گو مفتون جا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم  چه دا هسې رنگ زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند»

زه دیدار په دردوغم کښې شاد مان یم  لکه گل دپر ښانۍ په وخت خندان یم
نه زما و بېکسی ته نظر مکړه  خدای ساتلی لکه گنج په بیا بان یم
لکه ونه د ځنگل په مېوه پوره  په ویرا نه ویرا نی کښې ابادان یم
یو ښتنه مې دصورت بی عشقه نه دی  څو کیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه    لکه لعل ودر په غاړه د خو با ن یم
د کاملي عقیدې لـه بـر کـتـه    دروهی په غـاړه نـاست شاه جها ن یم
روښنائی مې په‌طلب کښې شوه حاصله    شپه اوورو ځ لکه آفتاب په‌لار روان یم
چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړ م    یلی ، سر په لو یه لار د هندو ستان یم
بی مینه می هیڅ حا ل د صورت نشته    لکه بې مال ومتا عه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ند ې نه کا    دافلاس په کـبل بـو تـی د خزان یـم
دلبرانو ته خـا ك تر تـلـی لا نـد ې    د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیـار پـه دیدن سرو مـال ښندمه    خلقو واوری زه هغه عبدالر حمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه‌دیار په‌درو غم کښې غرقاب خوښ یم    په دااور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر دا‌یوچی گـفـتـگوی چه زه یې اورم    په نغمه په تر انه د ر بـاب خو ښ یـم
چه دیار دخط وخال نښی پکښې وی    زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ر یـا تـر نـا قـبـو لـه عبـا د تـه    دساقی په میو مست او خرا ب خوښ یم
چـه نـه علم نه تسبیح نه تـلا و ت وی    له‌دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی    ستا دمخ په لمبو سوی کـباب خوښ یم
خا موشی که هر څو لـو یـه مرتبه ده    زه دیار سره په سوال وخوب خوښ یم
دیار دېرې غمخوری یـم عـاجز کړی    رحمان ځکه په‌خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

څوك چه بد راسره کا ورسره ښه‌یم    هم په دا ښو دبد انو تـو ز لېمه یـم
له‌هغو مې څه اندوه چه‌په خوی اوردی    په‌خپل خوی کښې سوړ اوزم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پټېـکښ را وړی    ددی هسی یا ر له خدا یه په غو ښته یم
نور زما دی ، ناز زما دنورو څه دی    دیتنـگوغوندې مـخ خیر دځان په سوه یم
په ایرو یې‌مخ سپېره شی‌چه نفاق کا    آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری    په‌هجران کـښې‌خوښ دستر گوپه واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم    زه‌خوار کړی خپلو ستر گویم خپل‌زړه یم
«عبدالقادر ختك»

مخ‌دې لکه‌نمر دې‌ورته ځیر کـتلی نه‌شم    ځکه یې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زړه یې‌راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو    راز پـکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس‌مې‌په‌معنو کښې ښه مین دستر گو کسی    کسی به د خلقو په ویـل ایستلی نه شم

زه يې د زنخ په څاه کښې بند لکه يوسف کړم
بند يې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

بې يې د زلفو درسې ختای نسه شم
زه مې پرواز غواړی ولې الوتلی نه شم
«عبدالقادر خټك»

د خپل يار له مينې هسې ديوانه يم
که بې آهه بې ناڅې بې زغه سوزم
دخال خيال يې ما ضعيف لره کافي دی
چه يې خيال ساتم د سرولبو په زړه کښې

چه خبر نه په کعبه په بتخانه يم
پر څراغ دمخ يې څنګه پروانه يم
دمينې په دود قانع په لېزدانه يم
دا په دا مدام د لعلو خزانه يم
« مرزا حنان »

په جنت نه يم خوښ هرگز په درد يار مې قسم
زړه مې له نا وعده د وصل هرگز و نه ليده
پر وايه گل ويه خار نکړم د جنون له فيضه
که مې سرو لاړ شی ستا په مينه لاخوشحاله يم زه
تور بخت مې و نه ليده هيڅ ستا د گنا گل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

خوښ په لذت يم دخوارۍ په اعتبار مې قسم
په ناميندگۍ دتورې شپې دانتظار مې قسم
په سينه صافه آئينه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو ميښکو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

زه چه مين ديار پر مخ يم نوبهار څه کوم
چه وعده وکړې دهغتی ترميان کړې تېر گلونه
رضا دځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منگوله هغه يار دی زما
که د وصال په هوا را شی يکتنها دلبره

تماشه بې دياره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله نش دخواړې خالي اقرار څه کوم
دا که مې ټول ديار په لاس دی خپل اختيار څه کوم
نور حسن داره بې له دې دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بار گزی »

سپين رخساردې وای سپين صبا شو قم
د صبا او د بيگا تر منځ حيران يم
سېر يندې څوندې قی کړی کو لمې ناست يم
گنجينه شوم ستا د مينې له دو لته
چه ميرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه يوزه لاړ شی صوات له
د ميرا صاحب له جوره قلندر ره !

تور کاکل دې وای تورو شپه دتم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
دهجران لاس مې و کاږی زېروبم
اژ دهار را بادې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذردی کم
چه ميرا يې همراه نه وی هوس کم
دا يو ، لاړو ، السلام عليکم
« قلندر »

مغنی گوتې په خير ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای برهار دی
ستا د زلفو مار چيچلی نه رغيږی
تاچه مخ ورته ښکاره کړو لېونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښۍ پياله په لاس کښې نن زما ده

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ريښه پرې ايښوداى نشی مرهم هم
په ستا نو په زيار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتيده غم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لذت دې دسروشونډو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نغاره دا سې آواز کا
که ناستې ديار کوي په خاورو مومي

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو
چه يې نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوي طالع څه بيان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غريب ذي
داسمان په شان يې تيز دفتنو تيغ کړ

پسرلی مي دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر لونم
لامي غټور ته په نخير کښلي نه وو
لکه ډېر پري پيکر هم پري رو وو
وه ورځ به دا غنز و شي عايخا نه

بې له ياره رابنکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب مادغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټي کړم
دحسرت ګوتې به غاښ کړي طبيبانو

سور پېزوان د په سروشونډوهسې زېب کا
دسرو ټيك دشهزاده په جبين پروت دي
دوادره ليچي دې وښکلي مصري نوري
ستاله غمه به ځان زړه در حمان سوزي

پارسائي يې د پارسا له لاسه يووړه
چه مي کړې وه توبه له مې خواري
معجزه چه د احياده په دوه لب يې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
راته پاتې دا يوه مسلماني وه
ماوې زه به دعشق رازلرم په زړه کښې
چه دزړه صبر ديار له ستخه غوا ړم
که دنورو هوښياري په عشق کښي پس وړي

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دي دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ په ديدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين د ی د داغلو
که مي زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزي ښکاره په سرومنګلو
« کاظم خان شيدا »

ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېر ته نه رازي وار تېر شو
لکه برق درخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز روپړی وار تېر شو
چه فلاني هم لکه ګردو غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مي دزړه مرګ وته افزون شو
هك حيران راته فرهاد دوېم مجنون شو
دمرجان په طورو پنی مي لړون شو
له قانون او له شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جيم په قلم ښکلي کاتبانو
شينکي خال دي محاصل په بند پوانو
دو پوه بزم سر به پرېکړي دخوارانو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي ئې د دانا له لاسه يووړه
په چشمانو يې زما له لاسه يووړه
لاس په لاس دمسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يې دهرچا له لاسه يووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
محبت مي دا دعا له لاسه يووړه
دخوشحال يې لا په خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زړه سختي مې سر تر پایه و لیدله
سنګ به سینه دوړ کړی ستا له هسې سخته دله
نوره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
وار په وار مې واده په دلبرو و ښند له
یار مې هغه وخت وي چه به شپه به سره ناست وو
شمعې به ژړا کړه صراحی به خند ېد له
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
نشته یوه ښکلې چه ی. ي و بو لم بېدله
تل ګونه و هلی هر زمان ساده اهو نه
ما چه عاشقي کړه خود به ما به دا کېدله
سري لمبې بې بلې دخوشحال ختک په زړه کړې
سور خت یې اغوستی به دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختک»

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
نور شراب مې واده تور عالم وته بخښلي
لام و ی مې محادلي پسې مرمه مرمه مرمه!
موړ به څښي نه شم زه د مېو مستسقي یم
تل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه!
څه وایې وماته حال د څه ؤ په هجران کښې
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
خلق راته وایي رنګ دې پیاز پر شو عاشق شوې
هیڅ منکرې نکړم خلقه شومه شومه شومه !
دورد عاشق دادی چه په عشق کښې ملامت وی
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختک»

توره چه تېر یېږي خو ګذاره اره کنه !
زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره لره کنه !
ولې راته وایي چه په ښکلو نظر مکړه
سترګې چه پیدا دی خو دیدار لره کنه
شیخ دې نو نسخ روزه کا زه به د کې پیالې اخلم
هر سری پیدا دی خپل خپل کار لره کنه!
تا وي چه زما د خولې بوسه لکه دا روده
غوایم دا دارو د زړه پرهار لره کنه !
وینې مې د زړه خوري مګر نور څه لره نه دی
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه !
څه ژړا فریاد کړي دشپې د تورو زلفو
نور تلې پخپله دی ښامار لره کنه !
خو د به ستا دمخه د ګیاه غونډې خر ګندشي
ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
مې شته چنګ وني شته دخپل یار سره خوشحاله؟
خپل باغ په لاس کښې ځه ګلزار لره کنه!
«خوشحال ختک»

لکه مخ زما د یار دی نور خوږ هسې وی کنه!
لکه زه په عشق کښې زبیرم زبیر خوږ هسې وی کنه!
دعالم د ېري خبري لور به اور توري لښکر یې
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خوږ هسې وی کنه!
بې دعشق له شور و شره چه هر ګز زما له سره
نه ځي نور څه هر څه درومي سر خوږ هسې وی کنه!
چه یې ریم عمل لا کا چه بې ورک کړي ځان پېدا کا
ورځ د شپه دا هسې کر کړم کر خوږ هسې وی کنه !
تاوي درومه او مې زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه
تل مې نه یې به خاطر کښې زبر خوږ هسې وی کنه!
وهغه نه مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموز دي
په خبره نه پوهیږي خر خو هسې وي کنه !
چه آزاد مر بی وردرومي خپل مراد ور ځنې موې
په هیڅ ځای ندی تړلې ور خو هسې وی کنه !
په یوه زمان تر یاره ورشي را شي خو ګذاره
دخوشحال خاطر تېز بردی پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال ختک»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغ مي
مګر ځان وسپاری خدای ته به امان شي
هغه یار به زه و ګرمي خواته غواړم
دلبران که هر څو ډېر دي په جهان کښې
چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شي
دا نایاب به د رحمان په قال یو هېڅ ی

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرو د مال و بهره به ما مه کړه
روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دی
په جویبار زما دستر ګو سروته یې
مخ دې بې له خط و خاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

ګنج و عقل زار شه د عاشق د څا څکي او ښې
تیغ دیار له لاسه په مري د عاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره
ګوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه

په ګلونو اواز ورو کوه بلبله !
عقل و هوښ عزیز تر هر څه بېدل نه شي
خدای دې ه کاچېرې چوخ په دې په بېهوشي
و مطرب ته مینا وایي وایه وایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وي که توره وي که سپینه
شهد که څه نبات دي که شته شیریني نورې
خیال یې د زلفینو لکه مار ور باندې پروت دی
سل زخمه که وخوري توي به یو څاڅکي بري نو لحی
خرب به یې بدل په بیداري خوښي بري و یري شي
یار به هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړي !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایي

دا متاع د زمانې په دکان نشته
ګنه بل خوا ته د هیچا امان نشته
چه یې هیچېرې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نېر په جهان نشته
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته
چه و باغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په در وازه کښې دربان نشته
دا ته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

څکه ما څخه د صبر مجال نشته
و بهره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
چه یې هېڅ حاجت په خط و په خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هېڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خروار د عقل سه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر بېند لی نه شي په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستا رند انه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه پېږي ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې د مل جله!
قدم ورو ږده درابیلو به ګل ګله !
دا معنائي پیدا کېږي له قلمه !
څه قدرت لري چه وایي له دل دله !
«عبدالقادر خټك»

کښلې شي له حورو چه پرې ور شي د زړه مینه
مینه که ئې ګوري چه تر هر څه ده شیرینه
نه پر یېږدي و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز نه دی چه نه زده یې لري کوینه
خو دې لا و چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لري ګډه
له نور چا به په نور څه لري ګله
انګوري ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له ګبینه لري ګله
چه بې تا یې غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما ښه لري ګډه
هیڅ ایستادي ښکښې ونګړتري پر بوت
له ناوکه یې مي زړه لري ګله
چه جارو مي ستا د در د خاورو نکړه
ډېر زما له ما بیا نه لري ګله
بد و بدو ته ښکار بېږي ښه و ښه ته
ښه له بدو بد له ښه لري ګله
ښه که سرؤ تري قربان عبدالقادر کړ
بیا تري ولې یار له ده لري ګله
«عبدالقادر خټك»

ننداره لره راځی چه پسې ځو نه
یه اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې ګل د پېغمبر شي
چه یې د مه پسه مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د ګلو ګرځي
ځلمي ګل به پګړي زدي په اوربل جونه
ځینې دواړه زلفې ډکې کا له ګلو
څوك په غاړه د ګلونو کا هارونه
زیړ او سره نمري اغوستي ګلرخانو
وایی سیر و نی و نیو ل ګلونه
چه ګلو نه ټولوی سندرې وایي
شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا
په هغه ځمکه چه کېږدي قدمونه
چه له سیله را روانه شي د کورته
ګل لمن به بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسي ننداره نه ځان وباسي
شیخه ورك دي شه بیو خته خلوتونه
له لیدل د ښایسته ؤ ښکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدي کالیده د روح خوراك دی
سفاني دي باندي نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادره ! را به نشي
که زړا کړي که فرياد کړی که آهونه
«عبدالقادر خټك»

څه افسون دې په ما وکړ پریزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك لکه سیند دی شعله بویه
که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بهانه ددې غرض مګر شانه کړي
ته یې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دې د تېشي په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړې فرهاده
په اسباب کېږي مې زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید سر و ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه
که څه رحم په بلبل کوې صیاده
چه په هر منزل کېږي سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کېږي
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت د شراب نشته
اور د عشق مي زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مي وچ لرګی شو، رګ مي تار دور باندې پر بوت
زیر وبم اواز تري خېژي هیڅ حاجت د رباب نشته
پر پرهار نمکپاشي کړي چه پرسش کړی له ما نه
حال مې خود ورته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم، تپش کړم په ځمکه باندې
ځان مي ور کړ ستا په عشق کېږي هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال ختیك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پرست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پسلم ګله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر ګو مستی بده ده ترمله

ښا پسته د زمانې د نیسا پرست وی
په کوخه کښې یې بل مه کښېږده بی بله

په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتیږی
څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !

ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده
زړه ګره دا د صراحی له قلقله

د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی
او که نه وی خبرجدا نه وی له کله

په پریشانو اندېښنو خاطر پریشان شی
جمعیت مومی خاطر له تو کله !

چه ستامخ ورته حاضروی ګل به ګوری
دغه ستر ګی دې دخدای نکابی ګله

د مجلس روښنائی ته یې ته دی استیی
کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه ګله

دا دنیا په مثال پل د آخرت د ی
تېرشه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر خټک»

سرو کیه لیده شی د چمن تازه تازه
ستاحسن تري ویشم ماه من تازه تازه

زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمنونو
یا دواړه نافی دی دختن تازه تازه

ګوره ستاله مینې زړه یې ټك دی وینې وینې
رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه

ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع
وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب اوبلا کش وم
ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیګانه وم
تر خلقو ښتو ګالو تېرشوم بیګانه یم لا تراوسه

چه عشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم
نورو ښتهمې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه

چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم
عام وخاص مې وائه ولی ښانه یم لا تراوسه

تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم
عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه

دشیرین دلبر له لاسه ، ماشراب دعشق بی قیاسه
څوبې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دیوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یا ره سینه افګارره
ته له مانه څه غواړي فلکه ستمګاره

ته یو موش ګیرك بی لایق نه یی د ګلو نو
ولی بلبلان شړې کمبخته ! له ګلزاره !

یار دې له ما بیل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه
وایه څه دې وګټل رقیبه دل آزاره !

یو دې د هجران په تنا ره کښې لو غړن کړم
بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو ګل يې خار شي په لمن زما څو خېژي
نه چې د و فا طمع کوي له سر و قد ه
غوځ وي قلندر په تيغ د هجر کړي نيا زه!

سير د ګلو و چه کوم يې له خپل ياره
سروبه هيڅ ليد اې نه وي ميوه داره
مه کوه ميرا! نوره جفا درب د يا ره!
« قلندر »

څوك چه ستا په مينه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښېومات لکه ښيښه شو
او ښې دبا نو په سر چه را شي نه د رېږي
نه شي څوك سا تلي سره بڅري په ګريوان کښې
نه دي چا مو ند لې ښاپېرى په دو شالو کښې

وايه بيفائدي زدي ابا سينه لره بندونه
نه شي څوك ايښو داى وښيښوته پيوندونه
ندي چا بند کړى په ګيا سره سيندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندر ه! په ميرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا يې په هر ګل با ندې طواف کا
د پتنګ په دود د ځان په سو و ر ضا يم
هميشه د ګل په بوى زه شمس الدين ځم
ميل نه کا را ته با ز د يا ر د ستر ګو

زه هوس د هغه باغ لرم له شو قه
ځکه مينه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل يار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردى زاغ لرم له شوقه
«شمس الدين کاکړ»

څوښي له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وا يې چه زحمت دې لاد وا دى
سر دې په جها نکښې د همه وا ډو ښا ديو
لوس به اه دې ورو سته دخپل ياره غم اخته شم
غيم د ي له از اه په نصيب د عا شقا نو
ما عبدا لقا در چه دا غزل د فراق و وې

نه کړم په ګل مينه دخزان له غمه زه
لا نه چه يې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دې شم بېغمه د جانا ن له غمه زه
ډېر په زده زهير شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صيږم يو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

يو غوا ډم له يا ره ښه ديد ن تا زه تا زه
ځکه بلبلا ن چغا ر کوى په تا زه ګلو
يو ز مان له مد حې د د لبرو مه د ر ېږه
ز ړه چه د ر قيب ز ما په بد سره ښه کېږ ي
آه کوى له د لمه په فر يا د له ز ير ګلمه
بل فکر مې نه کېږ ی بې ستا له ګفتګو يه
مه کړه په جفا سره از ا ر د بلبلا نو
ستر ګى مې خيره شوى چه ولاړ يې زه دې ګورم
ز ړه د يو نس چو ى ستا د هجر له سختى

بل در قيبا نو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام ګل وى نه چمن تازه تازه
تل د يار له وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
شېر شکرې وايه له دهن تا زه تازه
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لورى آمدن تازه تازه
ښه خوبه خپل مهر کړه غمجن تازه تازه
« يونس »

روهي ګلدونه (٥٢٥) ب: سردار محمد ع سراج الدين – د محمد امين ب: محمد نعيم ...

ښه مې و لیدل په سترګو واړه ښکلي  چه تر واړو لاتېری کا جمال ستادی
د دنیا په مخ به ډېر وی ښه مخونه  چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې  چه دانه دی په دالومه کښې خال ستادی
دواړه ښې ګلګونې سرې به د ماغ درومي  ګوره بیا څو مره وکړی پایمال ستادی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودر پېژه  مقتولانو قبول کړی وبال ستادی
که همه دخلقو ښکلي سره ټول شي  خسته زړه مې به ټولی کښې لېوال ستادی
چه دې څوك په کو څه تېر شي نور مین شي  چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته  چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستادی
چه صبا بېګا یې لوندلرم په او ښو  یادګاری راځخه پاتې رومال ستادی
څو ریبار در سره نه بیاېي دوړاندې  چه په چم به یې تېرېږی محال ستادی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې  چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستادی
« خو شحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی  قدې سرو صنوبر دري واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکر و  لب دیار شهد و شکر دري واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم  نارو خارو دا بستر دري واړه یو دی
چه ودراو و دپو ار ته یې نظر کړم  باغ بوستان او دغه در دري واړه یو دی
چه غبار یې د کوځې را ندې راشي  دا غبار مشك وعنبر دري واړه یو دی
خدای دیار له هجره هیڅوك خبر مکړه  تاخت وقتل و دا خبر دري واړه یو دی
هغه دم چه سړی درومی له جهانه  توري خاورې سیم وزر دري واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا  خان سلطان او قلندر دري واړه یو دی
په دکان د نابینا ؤ جوهریانو  خر مهرې لعل و ګوهر دري واړه یو دی
دا پېران دې عار زما له عشقه نکا  پاك عشق پیرو پدر دري واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو  ګور او کور وپېنور دري واړه یو دی
غزاو شوه که ځان ستائې ورحمان ته  بې هنرو ګاو خر دري واړه یو دی
« عبدا لرحمن مهمند»

تور ګیسو د په چند ن باندې ښامار دی  تورې زلفې دی سنبل دنو بهار دی
توري سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی  چه و څرو ته پرتې په سنبل زار دی
توري ور پځې دې لیندې بانه دې غشی  عاشقان یې زخمی شوی په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلور ه  بیدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دې دو رو څو په پیوند دی  دخطا دملك اصلي نافې ترې جاردی
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده  چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښنا ګونې د نسترن دی غوړېدلی  د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم  د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو  سپین غاښو نه بې بها در شهوار دی

شنا پسته ز نه د سیب د سمر قند دی
چه خوا زه یی تر شنا تو نه بسیار دی
صراحی د سپینو ر ر و سپینه غاړه
سیم اسا اوزي دي هم په د غه شمار دی
واړه تن دي د حلب تر ښیښی صاف دی
چه را زونه دد رون تري نمو دار دی
سپینی لیچي دي و ښکلی مصری توری
چه خو تو نه یی په غاړه سل هزار دی
د یا قو تو نیکنی دي سره نوکو نه
ځای په ځای دي په اوزوباندي قرار دی
چه مي ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلك په لبذت ډك خوازه انار دی
د نامه غو ټی دي گل ده د گلا بو
کینږ اوښی د گلو پاڼي پري انبار دی
د نامه نښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډ یو تر صفت دي نه ز سپیږم
ولي سپیني په سپینو الی تر چه تار دی
سپینی پښي دي د ز نبق د گلو پاڼي
دیښو گو تي دي گلو نه دانار دی
تمام قد دي په مثال د صنوبر و نه
در پیده یی سم په مثل د چینار دی
سر تر پا په نندا ره بی ځان دي جوړ کړ
ترتا جار واړه را نهی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښي را ښکاره شو
د لو پیا دا نه یوه مټر خروار دی
نه خو ډ ېر مهر کوی عمر دي ډېر شه
دخوشحال خټك دي تش لیدل په کار دی
« خوشحال خټك »

عاشقی را باندي سوری کړي مړیء
هیڅ مي نه د رومی بي باره تر مریء
څه اثر به یی د عقل وی په سر کښي
د هغو په سر چه کښېني ښا پیریء
د مژگا نو په پنجه مي زړه وکا ږی
خدای د تر کو مستي ستر گي کړي مرزیء
علو فه به یی بېغمه نور څه نه وی
هر چه کا ند ي دخو بانو چا کریء
لېږ د صبر سبق ما لره هم را کړ ی
که په عشق کښي څوك دغه طاقت لریء
خدا یه څه دي د کو ډوال په لاس کښي ور کړم
شپه او ورځ مي غږ وی لکه تو ریء
په صو ر ت مي نر ی تېبه شو ه و لاړ ه
تا چه دوا ړه ستر گي تو ري کړي نریء
د وصا ل د لا لان کوم طرف ته غواړم
چه بند ی شوم د هجر ان په کچر یء
نو ر د شمعی په فا نوس کښه پټېږ ی
تا چه وا غو ستي دخیال جامی نریء
زه ر حما ن په ز ړه نری کړم هغه جو نو
چه یی ملاوي د و ښته په د و د نریء
« عبدا لرحمان مهمند »

دا چه مست په میو را غی یار د چا دی
بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه ز ړه سوی یی د حر م په صید هم نشی
دا بید ر د ه بیصر فې گز ار دچا دی
ما خو نه د ی څوك پیو جهی از ار کړی
دا چه ما از ار وی از ا ر د چا دی
چه یی د ر ست جهان د مخ په رڼا ز یست کا
دا آفتاب غو ندي روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یی ر سېد ی تر گلو نه شی
دا د ننه په حرم گلز ار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښي نه لری ر حما نه
دا نا ترس اوبی پر وا گزار دچا دی
« عبدالرحمان مهمند »

سپین ر خسار او مشکین خا ل یی سر خم دی
یا محمود او ایاز ا ست سره همدم دی
که دي مخ په ز لفو پټ دی با ك یی نشته
د حیات اوبه هم پټي په تور تم دی
ستا له زلفو له ر خسا ره له سرو شو نډ و
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په د هن کښي د ي غا ښو نه تجلی کا
یا غو ټی چه په غنچه کښي د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوځ ستا په غمزو دی  ...  چاره، غوښې له قده یم سره په غم دی
بی ژړا چا ته نه گوری سیاچشمه  ...  د نرگسو غوړ یده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بی زحمته  ...  ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له بر کته  ...  د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنگ بدیم ښکلیه! عاروالی له ما کړي  ...  چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړي
یو ځله بیا راشه په گلونو گذر وکړه!  ...  ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړي
گل دې په هجران کښې سل توتې خپله سینه کړه  ...  سرې دې له فراقه لاله سترگې ږړا کړي
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی گله!  ...  ته په دا خوبی هم دده نار و رسوا کړي
لاخوشبویی ور کا چه یی واچوی وا ورته  ...  زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانو ښکلی لکه ستوری  ...  گل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی  ...  خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په گلزار کښې  ...  جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترگو د ر راوښو واړل په خاورو  ...  نه یې وساتلې په پنبه کښې د ر دانې
هر ساعت چه ډمه کا سنگار د یار د زلفو  ...  وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو  ...  ور کې شه بیخایه د پښتون د برې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهېزدی و کورته  ...  ځای رالره نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه  ...  څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرگ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی  ...  شپه ورځ یې تېر لی دی په گوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنگ لیدلی دی  ...  د زړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی
اوس له ویرې په کوڅه ورتللی نه شم  ...  ما د مستو سترگو جنگ لیدلی دی
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی  ...  ما خلاصی د ستا ترخنگ لیدلی دی
ما بېگا شپه د یار مخ لید لکه شمعه  ...  دا خپل ځان مې پرې پتنگ لیدلی دی
د ا مطیع په سحر څکه څکه ژاړی  ...  چه خپل حال یې دېر بد رنگ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننگ لرې کوی  ...  تش دیدن د ښکلیو د زړه زنگ لرې کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم  ...  کله سپی غماز له یاره څنگ لرې کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننگ دی  ...  ځکه هر ملنگ له ځانه ننگ لرې کوی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په تور لیمه کړه  ...  څوك چه ستا له شمعې ما پتنگ لرې کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه پرې پوهېږم  ...  سپی غماز له دره ما په جنگ لرې کوی
بس کړه ای ناصحه! تورځیگر را باندې مه خوره  ...  کله مست بنگی له ځانه بنگ لرې کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه  ...  عشق پوهېږي رنگ دی چه بل رنگ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
مرم د خدای د پاره په شتاب رادرومه
ځم د یار په اوری په هواهوس خوښی کړم
هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره

خوږې شونډې دې شکرې نه ی څه د ی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ینږی
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ور کړی
څه شو که ترې سلسله ځار ینږی په ساعت کښېږي
ښه رنګ یې بد رنګ کا چه پری واوزی یپوخته
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نوآموزته
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
سرغواړه له خدایه خولې ډېری دی فاضله

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سو ګند خورمه چه کله
کافر یم که یی و باسم هغه ساعت له زړې
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښېږدی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیا ښتیاخبرو
شېخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښېږي

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
اندرون ګو ګل می درست دو ینو ډك شو
بیا دې نوی پرهارونه په ما روغ کړه
په ژوندون یې څه احسان را سره نه کړه
زه دې درست له باغه واپستم دلبره
تو رو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
خماری سترګې دې د واړه ښنه زمری دی

ګوره دایه ځان خونی تورماراره وردرومی
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار اره وردرومی
ذوق کاندې بلبلې چه ګلذار اره وردرومی
هر کله مطلوب و طلبګار اره وردرومی
«خوشحال خټك»

ښکلې غاښ دې مرغلرې نه ی څه دی
سیه چشمې سحر ګرې نه ی څه دی
هوسی سترګې زړه روړې نه ی څه دی
ښښتنې په قامت سترې نه ی څه دی
ستا د مخ په دور لرې نه ی څه دی
«خوشحال خټك»

سترګې د ښو په درانه بارنه زهیر ینږی
هیڅېرې یې زړه په عاشق خوارنه زهیر ینږی
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ینږی
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ینږی
هرچه مدام می خوری په خمار نه زهیر ینږی
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ینږی
هرچه غم د سر کا په دستار نه زهیر ینږی
«فاضل»

سجود که روښن کړم که داعیب دی، هم وی دی
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
مستی یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال خټك»

زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
لرغونی مې لا روغ نه ی ځینې ځینې
څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوږینې خوږینې
د واړه ګلو ښتی دی دمښکو چینې چینې
د خواجه محمد و مرګ ته وډینې وډینې
خواجه محمد بنګښ »

نه به څوك بې ناچارى وطن پرېږدي
نه به روح هرگز په خوښه بدن پرېږدي

که ستا مخ یوزلي وویني په ستر گو
بت پرست به نور سجود دوشمن پرېږدي

د یوسف غوندې به خوځني پیروان کا
که د زنې چاته زلفې رسن پرېږدي

که دې ولید ى سرې شونډى جوهر یانو
په یاقوت پسې به تله د یمن پرېږدي

که د لبر په دا ښا یست لاړ شي چمن ته
د خولئى دعوى به گل دچمن پرېږدي

« کامگار »

چه یوه گړۍ په جمع زړه ښه مخ وته وگورې !
که درسته دنیا ستاشي هم څه نده داتر پورې

داخوى زماقدیم دى څه ما اوس ندى راوړى
چه بې دزیبا مخه رانه خس دى چار ې نورې

د خلقو تهمت یوسر دجهان غم نه بل سر
هم ته به مې لاهسې رنگه سختى بلا ژغورې !

دا اور چه په ما بلدى دخپل یار له جدا ئى
نه گرم نه ملامت یم که تل وینې ژاړم تورې

اشنا ته وایه نشي نا اشنا به څه خبر یږى
دا راز چه لا ما نه دى او ر ید لى خپلى مورې

ناوك یې دمژگانو دابرو په کمال جوړ کړ
خداى زده چه به دچا ترزړه گى وزى پورى وورې

ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لاسو کبوت
په قدرى خبر شه چېرې نه په لنږى پلو رې !

« خوشحال خټك »

ښه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدي
دا زما پر زړه دا غونه آتشین ږدي

د عشق اور مې وبلوى د زړه گى شمع
بېهوده مې پر موم نقش دنگین ږدي

مادې خیال اره فرش کړى تورلېمه دى
ته بې نیا زه قدم ولې پر زمین ږدي

په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه
په راحت چه سر له نازه پر بالین ږدي

« پیر محمد کاکړ »

❀ ❀ ❀

## ه : موضوع گانې

### (۱) ـ مخ :

بادیې لاس په پلو کښېښوږدی سره رېبږ دی
گل یې مخ وته نظر کا خوله یې رېبږ دی

« خوشحال خټك »

دپریې ښکلې جوه ما یدلى دى په ستر گو
ړوند شم که به تا غوندې په حسن بله وه

زور دغاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دى
زخم به پرې وشي په ورو وروپې ښکلوه

عمر به یې لنږ شى که ئې تاردزلفو کم شى
فهم کړه اى ډمى ! زمنځ ورو وروچلوه

« عبدالقادر خټك »

اى چه په مخ وړ ې خو ئې له ور ده
خالى یو دم نه یم د ستا له در ده

ته یې آسیبه بهى ، سیب او سى
که تر نار نج مې خپر ده زر ده

« عبدالقادر خټك »

که مخ دې نمر کړم دنمر کړه وړه نشته
که یې سنبل کړم سنبل مشکین ندى

«عبدالقادر خټك»

دپر هوس لرم د استا د مخ و گل ته
زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړې

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو — تور ې زلفې غلافونه دا طلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو ددلبر مخ — که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د غاښو — پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم — کله لید په خوزو ستر گو شی دنمر مخ
«قلندر»

دا دې یار خو دی، خو له نیو لی — که لاله گل دی پر خې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه — که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کتا ته موړ نشوم — نور به څو پردې نا بوده دنیا ویا ډم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای با غوانه! — په درست با غکښې یو نسرین هسې نرې!
«خوشحال ختک»

مخ وته یې، گورد چه په مخ لری خا ونه — څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې اوزنه:

د خولې ویل دې واډه نبات دی — خوازه دې لا د کنځلو زبات دی
خوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی — شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت ځنې روان شی — که یاره مې د نافی په دود ټټر کړې
په ناز کو شونډو با ر د پانو مه زده — خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده — څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی — دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك وویني د استاذ نخ پر آب — زړه یې ووزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال دزنخدان وزړه ته تېر کړم — په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی — هغه شونډې څه حاجت لری د پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم — هر سحر غاښی ځما تر بستر و پسنی
«عبدالله پوپلزی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

گویا اخلی د یاغیانو فلنگو نه
څوك پراته غاړه غړئی په یالنگو نه
د غر خه غوندې په هسې گړ سگو نه
«خوشحال خټك»

چه د یدن دمین و کړ مه تازه شم
یه ارمان د هغه و خت یم د ریغه د ریغه

لکه حکمت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یی بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

څوك چه زور مه ښکاره کا وزیاتیږی

که پخپله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هود مې سپینه خوله غوادې ختکه
«خوشحال خټك»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یی ته په بها پیرې زه یی پلورم
«خوشحال خټك»

په رښتیا رماته وو ایه طبیبه!
سپینه خوله که بی ریباره وزپیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران کښې یسی ته مرې

اوس یی په وصال کښې دواړه لوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گذر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

په چمن کښې رنگا رنگ گلونه وا کړه
په شکار ناری وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټك»

زړه می تخمخ کیږی دسپین مخ وښکلول ته
زه چه غلی سوال دبوسې و کړم راته خاندی

لاس یې لر بر کیږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوینې ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحال له

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو

قسمونه مې نا صح گڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په څو زو یی د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هز ار لحله شیخی کوی خو شحا له

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یی ښکل کړه
«خوشحال خټك»

## ٤ ـ سترګی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری سترګي ... هسی پري غوځیږم وایی توري لري سترګي
یار مي په ښایست کښي بی نظیره بی ماندی دی ... لا په درست صورت کښي ډیر مشهوري لري سترګي
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته ... ځکه ستاله مخه هوري دوري لري سترګي
هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی ... هرچرته چه زاني شاهین هوري لري سترګي
« خوشحال خټك »

ما یی خیال لره ابلق د سترګو زین کړ ... قدم نیز دی په رکاب زما د سترګو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می دېښو کړه تري چاپیره ... ګوندي خیال دیار په سترګو کښي حصار کړم
« عبدالقادر خټك »

ځکه ما دعشق په تیر ځان شهید کړ ... چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مرګے دژوند زما پوښته له مړاوو سترګو ... په رسا ګذار یو هیښي د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښړی وروځی کوږبانه چه دي را یاد شی ... کازه غشی مي تر زړه لوېږي آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تیري ستا ... پري به غوڅ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دسترګو دمږ ګانو په پنجو کښي ... دی لکه تنزری په چنګ و ډی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو سترګو په تعریف کښي ... نده کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري سترګي خدای خونی کړي ... ګڼه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو سترګو فتوی در کړه چه مي وژ ني ... حیرانی ده پردا لو ستو د مکتب ستا
و کوتر ته حاجت نه لری د ښپلو ... چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم ... دا د سترګو باز مي بیا راځی وښکار نه
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښي مـو ندی نشی ... عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر خټك »

بی د یار له مړاوو سترګو چه کج ګوری ... ګڼه نکا رنځورا چاته جواب سخت
څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق ... د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و دشت شی ... هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي ګلونه (۵۲۵) ـ سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرانه پښتو ټولنه ۱۱-۱۰ ـ ۳۵ ع

### ۵- غاښ

په آرزو د سپینې خولې یې په بوستان کښې
نرګس پیاس پر سر نیولی دی پیاله
چه یې ولید خندا د سپینو غاښو
له شبنمه لمن ډکه کړه لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غاښو یې خرم وم
واقف نشوم د هجران د شپې له داغه
« پیر محمد کاکړ »

### ٦- غوږ او پوزه :

در په غوږ کښې د مهرویو هسې زیب کا
لکه بر ښې په سحار کښې ستاره
« مرزا حنان »

چه الماس دلبندرو زانګي په غوږ کښې
کواکب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږه وتې مقصود د مو مې لښتې ده
چه له پوزې یې مراد مومې لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه پوزه دې غوټۍ د زنبق ده
چه چاپیر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
« خوشحال خټک »

### ۷- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لري خالونه
څه عجب زیبا دي لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د اعتقاد ورځو په تور خال یم
کافر څه رنګ سجده کاندي په محراب کښې
ګل د دیري باریکۍ په شبنم خور شي
نازک زړونه بدوي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسې زیب کا
لکه مهر په مخزن د در مرجانو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شنې کا
زړه مي شین شوستا د شنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښې نه وی
د عشاقو یکبار د ا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز دي
دا زما په زړه دا غونه آتشین ز دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو ګفتګوی کړي — چه شانه وهي په زلفو د نګار لاس
«عبدالله یوېلزی»

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم — خدای دې نه کا ځان کمان کفر د چا
«میا نعیم متی زی»

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې — زر عو نه کړه تر سنبل او سره ګلاب
«میا نعیم متی زی»

زانګې پکښې زړو نه د عاشقو سره په ویښو — نه چه چیرې کیږدي سره ګلو ته په اور بل
«میا نعیم متی زی»

کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره — چه په څه ښاني تاویږي وایمان تـه
«خوشحال خټک»

که خوك وایي چه مار ګـله په کټ خیږي — زه خوږ لی یم په کښې د زلفو مار
«عبدالرحمان مهمند»

که اره لکه شانه شم پرې نه یې ږدم — که د تورو زلفو تار په لاس را کښېوت
«مرزا حنان»

تورې زلفې دې په لیچو باندې زانګي — ښاماران دي د چندڼو په ښاخو نه
«خوشحال خټک»

دار بل په هر پهر تار یې زړو نه بند دی — مشاطه ور باندې نور یسي په تارو
«خوشحال خټک»

که دد بدن حج اکبر کوی تلو ار راو که — چه پر سپین مخ باندې د زلفو تور اطلس لرم
«صدیق آخند زاده»

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندي — په زړه خو له لګوي مار د تورو زلفو
«عبدالرحمان مهمند»

رحمان ستا په مخ بې ځنمو وهم مین دی — بیهو دم د و زنه کښېښو د ادم په څه
«عبدالرحمان مهمند»

د ك مې د نشه لړ مون په اور شو — زړه سمند ور دې پکښې یې کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دی — له بخته خو بس یم چه بخت مې تور شو
«عبدالقادر خټک»

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پوهیږم — څه بلا ده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ یې معلومیږي — که ګلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
«مرزا حنان»

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم — چه سنبل ورته خجل دی ګلاب هم لا
«پیر محمد کاکړ»

خو د یه خو دي کله زلفې په مخ زانګي — واړه زهر دي چه څوزي په تور مار کښې
«پیر محمد کاکړ»

خیال د زلفو یې د زړه په جیدا کیږی — د کیږی پوښ پښکته شی تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را با ندی — چه په ما دی نظر وشوپه خندا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله په خپل قهر کښی مسیږی — لکه خوك په هندو بار کښی دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا — قدر زیسات لری ترخه چه شی شراب
« مرزا حنا ن »

## ۱۰ـ لاس:

د احمد قاتل لاس دی نه یو هیڅوم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الر حما ن مهمند »

کوم دلبری زړه په سرو منگو لووړی — چه لرمیو ن د ویښو د کې دی د حنا
« شمس الـد ین کا کړ »

سره نوکان دی دسر و گلوپه څېر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱ـحسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پید ایی — پـو ری مور کـه بیا پیر ئی یی راوړ ی
« خوشحـال ختك »

زه رحما ن د هغه حسن ثنا خوا ن یم — چه جر گه دعا شقا نو وی پر پنـد ه
عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گر مه خو یه — لکه گل په نمن یت تاز ه شبنم ودم
« شمس الدین کا کړ »

پـویکښی مخی د فند هار د کـبنلـو نشته — کبنلی د کشمیر کـه دلا هو رو د کا بـل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — پوطرف دی تیك شوبل دی نته بل چار گـل
« شمس الدین کا کر »

خو بـرو نی نی دلبر ئی څه په کار نده — لکه و نه بی میو ی په پا نو پـو ر ه
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفی نشته خالونه سره رخسار — شفه طوطیان دی سره گلونه تور ښامار
«یونس»

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامې یی واغوستی رحمانه — بیا یې جوړ کره ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنگ یی تن معلوم دی — هر ه ورخ چه جامه واغوندی گـلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعې په فانوس کې له پټېږی — تاچه واغوستې دخیال جامې سپوږ
«عبدالرحمن مهمند »

درستەدې اەخیل غریو واپستم خوشاله — یودغاړې هارمی د ګلونو مەشلوه
« خوشحال خټك »

## وښې

دامِلال دی چەلیدل شی پەشفق کښې — کەپەلاس د ګلاندامی سپین وښی دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳- عیش ،اودعشرت سامان:

دنیادار کره چه نەوی ښې دلبرې — اوردې یورې ددنیا پەملك ومال شی
ارمان دادې چه په زه همیشه نەوم — همیشه بەسره ګلونه کال په کال شی
د ګلونو وخت تیریږی ساقی! ګرم بی — که دجام په د کولو دې اهمال شی
« خوشحال خټك »

* * *

ساقی ! پورته شەدمیو جام تیار کره — عمرهیڅ معطلی نه کوی تلوار کره
کەغمخوارغواړې پەغم اوپەاندوه کښې — ښېښه د که د شرا بو اختیار کره
هغەخوك دی چەتهمت پرې واپەنەشی — غوزپەهیڅ با ندې مه باسه خیل کار کره
« عبدالرحمن مهمند »

* * *

غنچەغنچەشراب ساقی! بیابەارمان کړې — عندلیب ناری وهی چەبهار درومی
« عبدالقادر خټك »

* * *

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه — دشرابو سره نقل دخولې مل کره
« خوشحال خټك »

## رباب

پەآواز مې یې دزړه پرهار ګانەشی — مین څکه د رباب په زیروبم یم
« عبدالقادر خټك »

له مزینه زړه مې نرم او از خېژی — څکه خوښ لګەرباب پەزیروبم یم
« عبدالقادر خټك »

باغ د ګلو نو کنج د کتاب وای — رودوسرو دو نقلو شراب وای
ښې ښې محبو بې ښه ښه احباب وای — خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال خټك »

## شراب

زمایار پەخوب ویده دی چەوبیښ نەشی — پەپیاله کښې ساقی! مې تر یوەورو
« عبدالقادر خټك »

ګله ! نه چه د بلبلی مخ جار باسې — مګرستاپەخیل ښایست امیدمدام دی
نور چه تل د کې پیالی نشوی ښەدی — پەمیوەپیاله خوشحال خټك بدنام دی
« خوشحال خټك »

دا گلگون شراب دکومې میخانې دی — چه صوفي يي په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه — دبلبلو په اواز کښې داسروش دی
« خوشحال ختك »

د رحمان شراب له عشقه — نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوي راسته ناسته — زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو — وینم یکښې هردم دخوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی — معطل مه کوه ساقي! په داد ومل شه
« عبدالقادر ختك »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه منږده — دا شراب حقیقي نه لری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی — چه یې کا زی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقي دجام په ور کړه سستی مکړه — کاشکې یو هم پاتې نشي هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ رنا د نمر خپره شوه — زما یر کور د ویر تاره شوه
دبیلتون ورځ توره تیاره شوه — غېږ شونا څا په چه بیلتون راغی
زده مې له دی ویرنی سین دی — په زړا ژاړم څه ما وریین دی
زرغون له او ښو مې سا دین دی — په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا راشي — نه به تیاره شپه زما رنا شي
نه به شڼې را ته پخلا شي — بیلېږي پېر یې اوس دیوون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی — آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي — په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بنې کا کړ دی چې، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر مې زده سوری سوری کړ — را ته وگوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې دي وباسم — له خوږ مینه زه گی کوکی
را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

د بلبلتون او رو نه بل دی    هر گړی می زړه گی سوځی
لیو نی یمه د مینی !    سو ځم زه لکه پیلوځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !
غوږ و لی دی او ربل دی    اور زما په زړه گی بل دی
زه « بختیار » خاوری ایری شوم    په اور سوی می گوگل دی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

« قطب الدین بختیار »    ❀ ❀ ❀

« متوفی : ٦٣٣ ه »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری    لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی    خدای یی څه شکل د تش سلام محتاج کا
زما او ښې د گوگل په جوش پیدادی    لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خېژی    زمانه دخوشحال زړه ورته امـاج کا
« خوشحال خټك »

که داستا ستر گي راوچا رباسم ځانته    له ښادی ء به یی نور شاکرم وجهان ته
یو زمان مي که داستا لیدل نصیب شی    نور به ستر گي یور ته نکړم گلستان ته
طبیبان دخپل دارو درسره کېږدی    تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه پهما باندي تیر ېږی ستا په عشق کښي    خدای دي هسي حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډېر ژاړم    دوا ړه ستر گي مي پیغور کا و یاران ته
« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښي شوق د بوسي څه کړم    خو ز شربت په حال دمر گ د بیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو    دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه    د ښو یارانو فراق نښتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر گه خوږ شي په کومی    چه تا ناري کړي دلبر مي دروی
یو مي دلبرځی بل رانه زړه وړی    زړه مي په دا وړی چه دلبر نومی
« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی    په هر چاورمه شه بېوخته مېلما نه
د فراق او ښکو دصبر تیمم مات کړ    په دریاب کښي نشته نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره    دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو    سیل د اوروندی چه رادرومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه‌دغره پ‌ه‌ونوبل شو
سری ددوزی خېژی له نېتره له چیناره

غوادی چه‌احوال‌دفراق چېودرمعلوم‌شی
گوره هغه زانه‌ي چه جدائی ځی له قطاره

نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
راشه که بی اوري در باب له هره تاره

رنځ‌مي نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی
زر راځه طبیبه! گېنه مرم د خدای د یاره

مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
خدای‌زو‌به‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره

څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو
رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر ېکړه له بیماره

هسي‌خوارو‌زارشوم‌ز‌خوشحال‌په‌عاشقکېښي
خپل دی که پردی دی راته‌نه‌گوری له هاره

« خو شحا ل ختك »

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه
دهوا دیاران زا یاد زانه‌ی اکثر کا

« عبد القا در ختك »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم
خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌بایم

په‌قد کوږ په‌تن‌ضعیف گوښه‌یولی
په مثال لکه ا برو د لر بیایم

« عبد القا در ختك »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو
په هر مسجد کښي ا ذ ا ن ادا شو

راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌به‌بېلېږو
په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد ا لقا در ختك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه
که یو د رنگه کښېښي زما تر خنگه

که اشنا نه‌یی داشنا مثال لري
ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!

« عبد القا در ختك »

وخت د سحر شو پر یوتي تلي
له ککښیه لو ر یسه را و ختلي

د یار د راغلو وعده شوه تېره
په دېر ککتل مي ستر گي و تلي

« عبدالقا در ختك »

د مني وخت ؤ وني لېډ لي
یو څو بلبلي چه ژړ ېډ لي

خواري خسته وي وي‌مي سزایي
چه بی گلو نو ویا ښېډ لي

« عبدالقا در ختك »

ودل‌دهجرپرما شرطمکره په‌عشقکښي
ز هر چا خوږ لی ندی په شرطو نه

« شمس الدین کا کړ »

دزړه‌وینې‌مي په کومه‌درشتي‌خوري
هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی

بېلتانه‌مي‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه
دیار لاس می په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدین کا کړ »

د هند بارانه آ هسته و وره!
یار مسافر دی د ر سره بی ژ غو ره

د سایی گل ؤ په نا ز لوی شوی
و تلی نه دی هر گز له کو ره

« شمس الدین کا کړ »

د هجران له دېره غمه ولي نه مرم
له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم

چه یو یار له بله یاره جدا کېږی
د دي د هر له ستمه ولي نه مرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
له دې هسې صبحدمه و لې نه ر م

چه په لنږه گرمی شا کاندې و گل ته
ه دې بېو فا شبنمه و لې نه مر م

« عبدالر حما ن مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه د جدائی
درستهشپه بخو به دامان ستوری شمېری

« خو شحا ل ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
سرو مال په شا عا شقان یلوری په کاغذ

دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ

ته که نه رادرومې گاهی گاهی په خطیار کړه
نیم ملا قا ت و ینم ستا له لوری په کاغذ

مه کوه ناتر سه د جفا ستم را باندې
کله کله یاد کړه خیل غمخوری په کاغذ

وران به هر گز نه شی کښلی توری له ازله
هرزمانی که ستر گې د چا اوری په کاغذ

ستوری د طا لع هم له جبینه معلو مېږ ی
خه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ

مه گوره بی خط قلندره د یا ر مخ ته
بی تورونه ندېږی چه څوك گوری په کاغذ

« قلند ر »

## ١٦ — ژړا

که گریوان می د سپوږمی د نمر مشرق شی
زه چه یار په ستر گو نه وینم تورتم وی

درحمان خندا په اجـر دژړا ده
تازگی د گـل په قـدر دشبنم وی

« عبدا لرحمان مهمند »

ناخبـر پـه ی لـه حـالـه شفـق بـولی
که دوینـو پـه ژړلـو کرم اسمان دوب

« عبدالر حمان مهمند »

بی دردان ئی لاس سرخی دشفق بولی
که په وینو کړم برجونـه د آسمان دوب

« شمس الـدین کا کړ »

زه دشمعې پـه څېر ژاړم تر صباحـه
تـه د صـبح پـه شـان خاندې لـه غروره

« شمس الـدین کا کړ »

لـه ژړامی شوه تـازه دزړه داغونـه
لـکـه تل چـه شبنم اور ی پـر وښـو

حما دیـار پـه زړه کښ جوروستم نشتـه
در وی ئی سپی رقـیب را تـه پر ېښـو

« شمس الـدین کا کړ »

پـه سحـر ژړا دیمنـی نشـا نـه ده
بـلبـلانو پـر ې لـوولـی گـواهـی ده

کـه فریـاد پـه زورمـنـکرم زړه می چوی
کـه پـه زوره ناري کړ مـه رسـوائی ده

« مطیـع الله پیر خیل »

هر سحر ستر گې د گـل له اوښود کی
پـه دابـا غ کښ ئی ژړلـو خنـدا نشته

« عبدالقـادر ختـك »

روهي کلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردار محمد ؛ ع محمد علی خان ؛ ر عبدالغنی ؛ ن رجب علی ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ٧ - ١١ - ٣٢٥ ع

۱۷ ـ اوښکې :

څه اثر به زما اوښې په تا کاندې

هومره اوښې مې بهېږي په رخسار
په ګرېوان مې تل داوښو باران ورې

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې

یا کوم سترګې په اوښو دیار مخ ته

په ناولي مخ دیدن د ښکلو نشي

له حسرته خپلو اوښکو برسر یودم

دا ورك زده غوادم په او ښويسي لحظلم

۱۸ ـ غم :

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې
له ز ګېروي نه مې نور خلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښې شمعې غوندې ژادم
زده مې ستا په اورې هسې او بږان دی
ما دې ستا دانده ښنو په غم کښې سوې
داد ستور دی چه لوی غم په سرې ورشي
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسې
سره لمبه ګوره چه څه کا په وچ د کې

هسې زه په دیار په غم تازه
سترګې وخورم که نې وچې کړم له نمه ٠
زه به څه کړم دچا چارې بې دیاره
دیار نوی نوی غم زېږوي و صل
که دې زده له غمه وچوی دلګیر مه شه
ښایسته یاران ګلونه دی رحمانه !

لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »
چه غرقاب مې هم ګرېوان دی هم کنار
نه ور کېږي در حسان د زده غبار
« عبدالرحمن مهمند
لکه برخه مې ژړا شوه له السته
« شمس‌الدین کاکړ »
ناروا دی په قران وصل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »
چه څواوند نشي د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله یوسفزی »
زخمی ښکار په پښل دوینو پیدا کېږي
« میرزا حنان »

چه مې ځای شي نه دغه نه د باندې
تل دوچو له کبله سوزې تاندې
ته زما په غم کښې صبح غرندې خاندې
لکه زلفې دې په مخ دی او بزا ندې
ددنیا اند ښني واړه لکه سپاندې
نور غمونه ئې همه شي تر پښولاندې
بیا دې ستا په اورې دروې له ماوراندې
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندې
« عبدالرحمان مهمند »
لکه وی هره ګیاه په نسیم تازه
که مې شي په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رفوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بېلتانه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره

قسمت هسې له ښا دليو کنااره کړم
« عبدالقادر ختك »

تل مطيع الله ځکه سرور په دود نغمې کا

دا مشهور متل دی فرياد غم بر ښانوی
« مطيع الله پير خيل »

غم د يار مي په خاطر کښې محکم بيا موند

په کعبه کښې مې صياد د حرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جای نشين وغم ته تل په انتظار کښې

رکالا يا نه بندی يم د انګريز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګ کړ د زړه په وينو

پر چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زماز دی هغه پرې سوځی

ځکه مې حيران شوو علاج و ته طبيت
« پير محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقيب :

سپی رقيب ئې کښېنولی دی په مخکښې

هر خوك زدی کوُدی په مخکښې د بانډز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بی هنره سپی رقيب هلته څه غوښت

ګنډه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
که ويار ته رسېدای شوی په هنر څوك
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسرته وزی تېزی ناست يم

پری برئې تېزدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مقبول د رقيب ناز کړ ستا د پاره

سودا وزيان په دا جهان کښې خورا وورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا د عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له ميو
د دنيا چارې همه وا ړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه دی
در جمان د زړه خوناب مګر قبول شو

هم په داچه نوشته په جګر خون دی
چه ئې خاورې د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم د وفا طمعه

کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پياله تورو ستر ګو سره جنګه دی
که پر هکری سر په لاس ورلره راشم

پر لبانو ئې د زړه د وينو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تيمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه گاني

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پاڼې ... ښځې ددې دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښځي به ستر گو کړي خونه ... ژ بـه دې شکرې ده د ننـه په زړه پاڼې
هیڅ پرې نـه پو هیږم دا دې زنـه که منـه ده ... خال دې دی په رنه که دانه ده د مما نې

« خوشحال خټك »

کـنـه ولی د دوا ړو ستر گو ستـا په طمـعـه ... و هر لور ته می نیـولی کو ر یـه کو ر دی
چه می خیـا ل د ترکوو لیـد و یـه ز ړه کښې ... د وا ړه کسی می و ز ړه و ته نسکور دی

« عبـد الر حما ن مهمند »

مایه خوا ست وزاری خوله له یـا ره غو ښـتـه ... د ه یه نا ز لـکه غنچـه سره و نـغـښـتـه
شـه خو حـال ز ما تر غو ږه د یـار ور و ړه ... چه مدام کـا پرتا خواب د ناز با لښـتـه
محبو با پر پا انـګ و ا و ښـتـه یه خو ب کښې ... کـه هو سئی ده د بهـار پر گـلو ر غبتـه
ثـمر ه د بـد فر ز ند ښکـنځـل د پـلا ر دی ... پـیـد ا مشـه نـا خـلف د چا لـه پـښـتـه

« شمس الدین کا کړ »

چه له غنـکه د گـلرخ مې ا غیار کـښېښا ست ... په چشمانو کښې می گـل عوندې خار کښېناست

« پیر محمد کا کړ »

آ هـو چشم پـر سبز ه د چمـن ر ا م شـو ... یا پر تـخت د ز مرد شهر یار کښېښا ست

« پیر محـد کا کړ »

کـه عشاق جنـګ وجدل کا باندې څه شوه ... پـر گـلـز ار وی د بلبلـو شر و شو ر

« پیر محمد کا کړ »

کوم یه له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل ... کوم یوله دوه ؤښه دی تور گیـو که سنبل گـل

« پـیر محـد کا کړ »

پر سینـه د گـلبـد ن گر یـوا ن پا ره شو ... د غنچی له چا که ر نګ د گل ښکـاره شو

« پیر محـد کا کړ »

دا تـو ر خط را غی پر مخ د گـلـعـذ ار ... کـه غالب شوه په کـشمیر با ندې کـفـار

« شمس الد ین کـا کړ »

چـه مې ستا د مینـې د اغ پـه خا طر پوړ ... ز ر غو نه به مې لا له شی له تر بـته

« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الیلونه شمـاری ... پـکښې پراته دی هزاران زړونه پلیپلی صنم

« میا نعیم متی زی »

گو تې نور ې کړې په بای کړ ې دا پورې ... زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تور ته

« خوا جه محمد بنـگښ »

زه دریـسې درسته شپه پټ ژا ړم لـکه شمع ... ته صبا خندان لـکه گـل واز گریوان دچاپی

« علیخان خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون ئې د تند رو ، دربدهٔ ئې دی د سرو    پېر کوی په پلمو کښې حمله ئې دسپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غونو تل کړم    هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستهٔ شپه ر فتن کړم    دشبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښي در ، ر نگ گهر با زړه لکه لعل    جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالي کړ د زړه غولی    مېلما نه لره تیار شي سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خاطر راشي مضطرب شم    لکه پېښ چه د مفلس کره مېما ن شي
« مرزا حنان »

چه تاو و یستم تا زه غزل انشا کړم    پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع    ترفزل پوري رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دغه دا که فدا کېږی    شمعه بله شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو    چه ئې ځای د پا سه وېښو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېنې    رنځ د هجر به شی د فع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی    د بانو په ستنې ستاد یو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستایې بو دې نشته
په جهان کښې که باقي دې خو اخلاق دی
« خوشحال خټک »

په خو یونو کښې ډېر فرق دی
که سړی پر ې خبر دار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه خپل هم ځینې ویزار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه پر دی ئې خد متګار شي
که څوك خپل خصلت د ښو کا
تر سرو زرو به ډېر و بېدار شي
« خوشحال خټک »

ثنا د ګل شي له ښکلیه بویه
صفت د مرد شي له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیچېري
د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټک »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وي
په تحقیق هغه ارذال الناس وي
شرف به خوی دی په دیانت دی
که څوك شریف وي یا څوك کناس وي
« عبدالقادر خټک »

په ښه خوی د سړي قدر قیمت کېږي
بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځنې تښته !
بې هنر سړی که وګوري لاشي دی
« خوشحال خټک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږي
په بد خوی باندې خپل واړه شي سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل
نور د ګل په څېر ي پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره
له ګڼلو ترانه تېره
هغه څوك چه اخلاقي وي
د هغه نوم به باقي وي
که د چا اخلاق ښه نه وي
د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دین دی راغلی
پیغمبر دی پاڅېدلی
چه پوره کړي ښه اخلاق
او پر ځای کړي دا میثاق
په خویو انسان انسان دی
که نه وي خو تش حیوان دی
مکارم انسانیت دی
رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پري سره ځکه سره پنډه شي
په نسب که خان، نواب قاضي قضات وي

لکه کېنت لره باران اوباد په کار دي

رب دې مکړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په گنجله
« احمد گل اسلمی »
د عالم تولي په خلق په احسان شي
« خوشحال خټك »

۲ - په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندي بی حکمته

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروميي يكسر نگان — په له بو بانديې ځان ولي پتنگان !
د گنجگو قدر يو، د در ويل دي — ننگيالو سره څه ژوی بی ننگان
ار تگی د زړه دليل د جنتی ده — د دوزخ دا ور لايق دي دلتنگان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا — په سپهر و ابرو لې اسي ملنگان !
نور ماهی ئې تار په تار دروميي له مخې — ما توی لو اسي بيړی نهنگان
دهاتی دپاسه سپور ورته پيکه وي — چه د مېو پيالي آخلي سر هنگان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژاي پلنگان

« خوشحال خټك »

چه په غوږو ئې روز گار هغه زمری یم — نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
که عالم راته گل تا وکاغم مې نشته — په رښتيا ويل د دهرو پو ليو لك يم
په دانش په شعور نده په همت ده — چه دا هسې سر گردان لکه پتك يم
هر پښتون چه د مغولو نوکړی کا — که دی زر، د هغو وادو بهترك يم
چه منصب مې د مغل خوړ يو ملك وم — چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته — شکر داچه په خپل حکم په خپل وك يم
نه مې كار په خاص وعام نه په ديوان دى — نه په درو لار د هر يو مردك يم
نه تصديق شته نه ياد داشت شته نه توجيه شته — نه په فكر د سند نه د دستك يم
هر گيدي به چه له ما سر کوزی غوښته — د هغه د سر يا توره يا كوتك يم
پښتانه لره شري انديښی مې بس دي — نه په فكر د مسندنه د توشك يم
آزادی ده په ساده سپينه جامه کښې — خلاص دغه د زر بفت اود ميلك يم
د وښو جونگړي هسې راته ښې شوي — واي ناست په محلونو د آهك يم
که او گړه د ښو شته په شړو مبو سپينه — د مغولو پولاو پانې دهر پري دك يم
چه نيولي مې داهود دننگ ونام دی — که له خپلو هودو وا ودم كنيزك يم
په بل غشی توی هيڅ ويشتلی نه یم — که ويشتلی یم خو بیا په خپل توپك يم
چه شهپر مې بتی خيل وو کنډ کيرشول — پر وا دار په لنډو پرونو دبارك يم
د كريز بڼې مې توئې لکه باز کړي — گمان مه مکړه چه بی پرو ښا پيرك يم
تف په زيره د همه وا دو بار کو — لا زما په زيره هم که زه بارك يم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی — زه خو بیا دسباکیء انا خشتک یم
نن خو قامرا سره ډېره جفا وکړه — کانده بیا د خدای وحکم و ته ځك یم
که څه حق یا دنیکی یا دوروری شته — و یا داش وته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما دکډی لاس او پښې دی — راضی من دافرید یو یه کو مك یم
ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شی — چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کړ لانی خړ بنی خو چه پښتانه دی — زه د ننگه په کار دواړو مشترك یم
که می عمر په شماره تر شپېته تېر دی — لا په کار د سواریء لکه از بك یم
د افغان په ننگه مې وتړله توره — ننگیالی دزمانې خوشحال خټك یم

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله می په تیشه د فرهاد شه ده — تر هغه چه نا هوار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم — خو ش په طور دمك بې دست وپا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل گردن زده — حوصله دي په مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو د ی بحرو بر — که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم — په شاها نه شا ن وفر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه — دون همت اندېښه مه کړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ور کا — خدای دي نه کا چه عارف په کښې غارتشی

« خوشحال خټك »

څه هغه شهباز شه چه دي ځای په سردرو وی — نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دښ کړه

« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله — که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی

« خوشحال خټك »

سردې دروم یمال دي درومی پت دنه ځی — د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندي ندي — په جها ن کښې لو یه بخر ه د همت ده

« خوشحال خټك »

علم تا پیائی په پورته جهل تا پیائی په ښکته — یاعیسی اره وردرو مه یاقا رون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی — خپل کشکاب دخپل محنت خوره په سرراوړه پشتاره

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه ز یست چه د عز ت له مخه نه وی — چه یې کا به هغه زیست پوري هك پك یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه — چه تر فهم و تر نظر د مغل کمك یم

په خپل نام و ننګ چه را شم لېونی شم — خبر دار کله په سود او زیان دلګې یم
چه په طمع د او ږ و ز غلی و شست ته ! — ګما ن مکړه چه هغه نا پوه سمګې یم
تر قضا پو ر ی د هېچا چا ر ه نشته ! — او کنه‌تر زاړه ذئب لا ز یر ك یم
لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی — نه‌چه ګرځی ګو نګټ نیسی‌بادخو ر کې یم

« خوشحال ختګې »

❀ ❀ ❀

که‌د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آ فر ین د ې په همت شید ا ختګه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په‌غره دباز غوندی پرواز کا — بیا به وا نی د خو شحال ختګې پرنشته

« خوشحال ختګې »

سا قی جام دمیو مه ډ ر ډېر ده له لا سه — خو دعقل‌څه زده وی لا به مست کښی
ډ بلند همت کښی پورته پورته در ومی — ښکته‌ښکته ځی‌سړی به پست همت کښی

« خوشحال ختګې »

چه همت د سړ ی څو قد ر ی هو مر ه — د تمیز په تله هر سړ ی تا له شی
د و لتمن سړ ی هغه بللی بو یه — چه‌له سینده ئی‌جدا د چا واله شی

« خوشحال ختګې »

تو ر ه پښتو نخو ا ه په ځا ی میشته د ه — خو یو زه‌دی زما نی په کښی منصور کړم
که‌یې درست دم‌تو زور راته ښکاره کړه — نه‌به بیاپه قوم کښی کښېنم نه‌به‌هور کړم
عجب مار می جا ر وتلی تر دوه پښو دی — مګر لوی پاچو پیداشی چه‌یه دور کړم
مست ها تیان خو نی زمری‌په‌زنځیر کښېږی — بو یه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل ا ه مې باور شته اثر به و کا ! — ر قیبا ن به او ر لړ و نی دتنور کړم
یودوه سړی مارمی پروت په‌دواړو پښودی — په دیدن یې له نشا طه نه نفور کړم

« خوشحال ختګې »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه — چه‌محتاج دخیاط نه شی پیر هن ته

« کا ظم خا ن شیدا »

د بیا ښی دباز نصیب شوی تاز ه غو ښی — دوچ در بو بیخ نصیب شود سپېر کندي

« مطیع ا لله »

وزی تښزی پروت په خپل یوز کی ښه‌ئي — نه‌په‌تخت دپا سه نا ست دپل کره
دمنت پو لا و د ې ز هر شه که‌ئي‌ومي — د محنت سو ی سکړك د ساګې سره

« عبد الحمید مهمند »

که‌د توان رسی به لوی‌دریاب کښی ګرزه — په بیله کښی د ې زو ا ل و یننم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ند ی کښېږ دي — تر خرا غ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته — دا‌هم‌شکر چه ئي‌بوی ځی له پا لنګه
دعمزې په تیغ ئي‌خوږ ښه‌ئي خوشحا له — مړ نی په روغ صورت نه‌ځی له جنګه

« خوشحال ختك »

که غوټې پسې وهې په لاس به در شي — چا وی دا چه په دریاب کښ گوهر نشته
که د جنگ په کار کښ ډېر دي حکمتونه — خو صبا به ترې نشي ز لمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهي لکه خور شید کړم — یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مي نه دی — که علاج لره مي راشي مسیحا هم

« خوشحال خټک »

راشه گوره نامردان بلا و هلي — د بېړی میدان پرېږدي لري تښي زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه — کوز د ځمکې د تلی په مېنځ کښ هلي
مړه هغه چه ئې نوم نه يې نښان شته — تل تر تله په ژوندون پاتې ښاغلي
څوک په خپل ښتې کړل کاد اغزي و — چا په خپل ښتې گډو نه دی کرلي
پسینه کړنه هو مره فائده نکا — چه په وخت کړ نه و کا پر آ خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی — رنج و گنج سره دا دواړه دی تړلي

« خوشحال خټک »

ښتیا د د چارې په مصلحت دی — بیا د مړ دا نو په ښه همت دی
چه سره یو شي دا دواړه نو که — واړه دولت دی حرمت عزت دی

« خوشحال خټک »

مردان هغه دی چه همتنا کښ وی — دننگ په کار کښ چست و چالاک وی
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼي — په زړه هم پاک وی په خوله هم پاکوی

« خوشحال خټک »

چه په خپل د خپلو وینو سر خرو گرزم — څه منت به دد و نا تو د دینار کړم
چه په وازه خوله مونده شي مه يې وینم — که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم

« عبدالقادر »

که د ځمکې غوندي کوز په تواضع یم — په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم

« عبدالقادر »

چه همت دي د تپوس دی ځان بازمکړه — ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه

« عبدالقادر »

هر سړی په موافق د خپل همت نظر اړینه — په وړو چارو هیڅ کله کاته نکاندي لوی چاري

« عبدالقادر »

مردان هغه دی چه همتناك وی — په هره چار کښ چست و چالاك وی
چه غم پرې راشي پروا دغم نه کا — خواږه له هر چا په زیست وژواك وی

« خوشحال خټك »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رویه — ستا په سر کی به سایه دهما خوښ یم

« کاظم خان شیدا »

چه همت مي نه کا ډېر په هسکو او — لکه موج نکړمه بیم له پرو پو تلو
سوال مي خوی له در افشانه ابر ندی — صدف وار نه خپله خوله کړم په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته — په زړه بار لکه شبنم پر دوش د گلو

« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ـ امید :

د شپې څپتن دې سحر ته گوري
هیڅوك دی طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

دادستور دی چه شپه و لوېږی په ځمکه

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

هر گره گره کشالری نیکبخته

٤ عزم او توکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ماباندې خرخ خوری پروایی نکرم

نهرسي ترپاره هرچه دېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا پوه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستی وینم درویشه
نعمتونه رنگارنگ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومی !

غشی چه دېر ولی ښه تیر انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښی خوری مردار دی
دذرې په خیر دلمر په طالب گرځه
کار په تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی دیانت نلری رحمانه

گوندې پسرې و خېژی د صبا ستوری
باران په تېز و کښېتونو اوری
« خوشحال ختك »

خدای په ځمکه کامرغونه د هوا پیښی
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځی
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرگ پورې زما جانگزاری ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غو ته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خود ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
دهر هر کله دانا سره په نېت دی
«خوشحال ختك»

نورې کیسې پرېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال ختك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
«خوشحال ختك»

جمعیت مومی خاطر له توکله
«عبدالقادر ختك»

چه و نلی پی ددې خونې له ویشه
په غښتونی یا ندې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی پیشه
چه حذر کا د مچې له بده نیشه
« خوشحال ختك »

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشی
ودو، ورو، په هرهر هنر ممتاز شی
«خوشحال ختك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیږه هسی پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلې منګولې نه کا ګیلې    هومره نه وی څر بې غوښې ورته ګلې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا    چه قبول کاندی د بحر څونې چلې
عاشقان چه ترسر تیر شی هله ښکار کا    د دا ابرو ېستې څولې لکه ځلې
بازچه والوزی له جالې هله ګوری    د کبکانو ښایسته ستر ګی کجلې
چه داور ښری یاد سره رفیق شی    بیا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی    بیا هاله بیا یی په مخ د بری څخلې
«خوشحال خټك»

* * *

په تحصیل پسی یی ځکه کوښښ بویه    خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټك»

چه توده ترخه قبول لکه دریاب کا    هم هغه د قیمتی د ر و مـاب شـه
چه لمبه یی د آتش کړه په ځان تیره    له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پـا یه دسعا دت ده    هغه ښه چه د کمال په ا کتساب شـه
ته هـم زده مراد وغواړه لـه عمله    چه په علم یی عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټك»

ښادی غمغوندی آسانه موندنه شی    سور په خپلو وینو لعل دبدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندهله څه حاصل کاندی چه ګرزی    یو زمان قراری مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټك»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی    له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مه کړه په خپل وار به برخه در شی    بی له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه    له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی    تاوان په ځان باندې خالی ګفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی    ګوره ګوره که طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټك»

لکه عامل شوه د خاورو لاندی    عمل هم ورك شو په مځکه باندی
اوس په خبره برول و بـل دی    دا بیت بازی دی عالم یی کاندی
«عبدالقادر خټك»

کله به لا دروم ی له ماې دسحر خوبه    خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ یی منزل دی
«عبدالقادر خټك»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شی    چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټك»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشی چه دېر ولی ښه تیر انداز شی    چه مشق دخط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی    ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال خټك »

مړ تېي د هر چا نندي سره سمي     دخرد بار د فیل په شا باندي مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی     په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق یې سنز شه پخوانه     بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال ختټك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی     چه غم پرې راشي پکښی خو شحال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه     که یې په جاه ودولت څوك سیال نه وی
« خوشحال ختټك »

اضطراب به دي خلاص نه کاله قضا     مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر ختټك »

په تاکه را شي خاد نه لو یه     تېښته تسلیم صبر ته بو یه
نه به ین دفع په صبرو کړی     نه په لښکر و په ز ر ا و ز و یه
« خوشحالی ختټك »

صبرو نیسه په ځکښی که مراد غواړی     هیڅ کړی دغه کار په شتاب نه دی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حزنانه صبر وکړه مراد به مومی     د فلك زر نده به وا رده پس پیش
« مرزا حذن »

خلاص به نه شي سرکشان له گوشمالی     چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

دا نا یی مه گڼه چه صبر نه لري     چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی دصبر به کار کښی و نزمیه !     چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
«خوشحال ختټك»

صبر ناکو سره جور فلك نه کا     د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال ختټك »

ژوندی که گرځی ځان یې ژړلی دی     تور زن دسر به وینو لبر لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومي     ظفر له صبره سره تړلی دی
« خوشحال ختټك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه     اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خان هجری »

۷ـ د وخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا     نن دي وار دی که دروغ کړی که ربتیا
هرڅار چه تروخت تېره شي عنقاشي     عنقانه نیلی په دام کښی د هیڅا
تر ورځ تېری اوبه بېرته نه جار وزی     نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی     مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
هره نیه چه صحیح گڼه به زړه کښی     په غرور به هغه نیه کړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه     چه به دا کښی دي بهبود دی که بېدا
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بې وخته ارمان کا به وخت ورته موي

که د پوره سعیه کوښښ کړي څه شي
که هر څو مې به پېړی ملاح کا

آبشاره ! ولې دا هسې ژاړې !
که قل فریاد کړی به کاڼي سروهې !

کړل دي ویل دي دواړه اوان لري
چه کار د نن ورځې پر بېګړدی صباته

۸ - زړه

شه سړی پردی به دلاسا په نیکي خپل کا

پو زړه دخوشحال ندی چه جهان یکښې ایده شي

دواړه ځکو نه لکه تن دی
زړه بی چون او بیچګو دی

خودي زړه خاندی خوله دي خندا کا
مدار دهري چاري په زړه دی

دباز کډلو اطو ار مشکل دی
... هم بی نښه ګنډول یې هم لا

منبرو سوځه په اور کښې شراب وڅښه

که هزار ځله تقري پر هر ګاري کړی

قلب د دمومن ګوره ملقب په عرش الله دی

چه زړه ... دنیا نخلو ... پروا وی

و ګوري واړه کاروبه خپل کا
څو کړي چه آرام ګتې د شکو نام ګټي

د هغه عالمو ز پري د و شکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

په وخت چه نکړی بی و خته څه شي
په ژانګې چه کښېوزی پوري هاله شي
« عبد القادر خټك »

له چا فریاد کړی خوك پسی غواړی
بیانه را نشي او به نچه لاړی
« عبدالقادر خټك »

چه وخت یې تېرشي افسوس ارمان لري
هو نیا ر به نه وي دا خوی نادان لري
« خوشحال خټك »

کومه شاغلیاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »

دهرچا زړه مر آت دی صفائی وراره بویه
« خوشحال خټك »

کار د تن جوړوی زړه
خوك دا غمو شه ګڼی زړه
« خوشحال خټك »

چه زړه دي ژاړی ستر ګي ژړا کا
زړه دی مفتی دی هر ه فتوي کا
« خوشحال خټك »

په دا به پوه شي هر چه عاقل دی
که زخمي شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

شه دي نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »

زار داراز جوړ نو چه دزړه په بازار پلوسی
« دالپوری حافظ »

تزو که زړه دسړی پوسي څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »

مردان هغه دی چه کار دبل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی وانده مړ و نه !
نه سره سم دی دهر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چه الکه غرشي
که یا ندي راشي هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم په زړه زده په یر هارونه
دا نیا به ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه
پکښې به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفاوی
په چا ګرم مه شه که دي رضاوي
که څوک ئې ناحقه لتا پرخاش کا
اندوه ئې مکړه ظفر به ستاوي
«خوشحال ختک»

### په بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د پادشاه دی
هر اندام د ده سپاهي دی
ټول د ده فرمان بردار دی
دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یې مسخر دی
د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړي
لاس نیول ، سترګې کتل کړي
په بدن کښې ګوشت پاره ده
چه څکو چنوتي یې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شي
چه فاسد شي فاسد تن شي
پس چه شو صلاح فساد
تمامي په زړه بنیاد
ته مدام اصلاح دزړه کړه
په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده
د ګوهر و خزینه ده
ډیر پکښې دی جواهر
قیمتي نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی
د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یې معرفت دی
زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه
واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده
د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه
له جمله ؤ غلو رهزنه
چه دښمن یې تالا نه کا
جواهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه غرقاب شی نورهڅ ګان په نم دزړه
نور خراب شی خانمان په دزړه
عبث وای غم دزړه وبو الهوس ته
چه پوهیږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندي سوا د یار له مخه
ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه یې عرش او کرسی لاندي تر قدم دی
بالا تر دی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوچه
که آباد کا څوک ویران حرم دزړه
که نور خلق قدمونه ږدی په مځکه
مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان چه د آسمان مځکې ترمیان دی
یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له چا غواړم بې یاره
چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتي همدان ډیر دی په دنیا کښې
ولې نه مومي رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای دشکر شکایت کړي!   منکر پېږي په عطا د سبحان و اې!
دربېلې خدای ده ري چه ري توان دی   په دېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زه دنفس په پیروی در شخه لاړو   د خبیث په لاس دي ور کړو قرآن ولې!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!   خویو مکړه آ زرده دمسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دي له ښوره زړه بیرون کا   یوساعت په کور کښې نه پرېږدی خوک مړی
جمعیت چه لدنیا په نیا غوا ړی   هغه غړی په معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هرخوك چه یو کاز ړه خوله خپل دوا ړه   دویم په نیت شی ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې   تاوان یی واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي   ویره مې کېږي چه یی دبل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی   خپل به پردی کړي پردی په خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا نه کېږي   نه کړه دعا ګټه دعا قبلیږي
ازار د هیچا دا خستو نه دي   نیږی د خوږ و زړو نو لګیږي
« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې   پر و انګرم د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بیا ولاړ نی   لکه چیر ته ابشکر دروی د سلطان درست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی   بیا مشکل دی رغول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی   چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی   په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یی مه بو له بیحده مشرف دی   چه د خدای باندي نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی   چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یی صفت وکړم څه به و کړم   چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحده عالی شان دی   چه تر هر خوږو خوږتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی   چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ور سره کاندي   چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وینا حکم دقاضی دی . چه مقبول دخدای په در دی هغه زده دی
چه ظاهر وباطن دواړه یوې رو ښان دی چه دا همسې بلند لمر دی هغه زده دی
هیڅ اشیا یې لـه فتره بیرون نـه دی چه د درست جهان دفتر دی هغه زده دی
زه نبی به یې ثنـا کم هر بیـان کړم چه منبع د هر هنـر دی هغه زده دی
« عبدالنبی »

دلجوئـی به دي تمـام وګړی و کړی کـه ته هم د د لجوئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مانه په زده کښې یاد کړه خو دې لاس د سـې مروت د اد کـړه
زده نه د هر چـا په احسان بـاد کړه . آز اد بنده کړه بنده آز اد کـړه
« عبدالقادر خټک »

۹ – ژبه

غولا دی تو ره وی که لویه تبه ! تر دا لابده ده بد ګـو یه ژبه !
ډیر یې بلا به د ر خځه وا وړ ی ژبه که بده کـړ ې د پند طا لبه !
« خوشحال خټک »

په واك چه نه اری به کـام کښې ژبه که ګنګ شی ښه دی په لویه تبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی ایمـا ن لا هم ځی و اوره طا لبه !
« خوشحال خټک »

خوږه مری ده کـه خو ږه ژ به ! چه خولا یري خپل کـړیزما صاحبه
هنر هم دادی کـه دا هـنر لـري چـار به دې تل وی تر سیـا ل غالبه .
« خوشحال خټک »

که هر څو ډیـر یې تـر صحبتو نه عـلـم اد ب لـر ې فصـا حتـو نـه
لا به یه ژ بـه ډیـر فهم و کـړ ی د ژ بې ډ یـر د ی قـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټک »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و یلـو چه دي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
که یې عـادت کړې په بد ګـوئـی مخ به دي تور کـا تر پر دو خپلو
« خوشحال خټک »

په مرهم دخوشامند سره روغ مشه هغه زړه چه پکښې تیغ دژبان کښیني
« پیر محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمعرویو ځکه ژارې شمعې هم ځکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوپلزی »

هر سـړې چه شی ګـویا لکه قلم سر به یې شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله یوپلزی »

درست عالم په داخبره خبردار دی چه بلبله خپلې ژ بې به قفس کړه
« خوشحال خټک »

سلامت کاروان به تېر کړي له رهزنه	که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
«ملاجمعه»

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده	فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو دجمال وانه خیست	پښتو لا هسې بکره پرته ده
«خوشحال ختټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده	صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې تحیر کړ ښه پرې خبر شوم	جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال ختټک»

جنګ دهاني او مزري آسان دی	د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه	هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال ختټک»

که څوک نیکان دي که څوک بدان دي	په دا دنیا کښې چه په هر شان دي
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه	ته به یې څه کړې چه دخپل ځان دي
«خوشحال ختټک»

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړه کښې	راز به نه وایي اشنا وناآشنا ته
لنډ او ډېر ویل به نکاندي بې ځایه	هیڅ باطل ویل به نه وایي وچا ته
«خوشحال ختټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو	خبرې ښې دي ښه تر شکرو
دخوند مثال یې شکرې وایم	قدري ډېر دي تر مرغلرو
«عبدالقادر»

لکه وړی له میدان ګوی داخه ژبه	نه یې شي وډاي په تېره کړي شمشیر ګوره
«عبدالحمید مهمند»

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه	فتنې له خولې پاڅي نوخاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې	بېخوده پرېوزه باده نوشي کړه
«خوشحال ختټک»

سخي یې مه ګڼه چه نن یې خوارنه وي	باتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي
که دانشمند وي تفسیر یې یاد لولي	چه ډېر ویل کا دي به هوښیار نه وي
«خوشحال ختټک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر	دا ناتل ځکه په خوله دغه خاتم زدی
«عبدالقادر ختټک»

د میړو میړه دخانو خانه	د جهانبانو جان او جهانه
دا رنګ لوی به هاله روزي کړي	که وي نیکنیته او نیک زبانه .
«عبدالقادر ختټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری — سیلاب تش لاس دی سینه امن پرلری
دسیلاب گېده دکانږو دکه ده — بحر په گېډه کښی قیمتی در لری

«عبدالقادر ختك»

لهخامی جوش وخروش خېژی لهدېگه — دی له خیلی پختگی پختگان چپ
په ابو بهدي دېوه شی دمراد بـله — کهصدف‌غوندي‌پهصبر کړي‌دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی — په گو گـل دننه وساته ارمـان چپ
دبلبلو نـاري ښې نـدی پر گلو — چه‌پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگـان چپ
لـکه کاه اوکهربا چه سره بولی — هسی‌پټه‌خوله‌بلل کـاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کـوه عبدالحمیده! — که‌په‌ زبه اویزان شي لـکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمـانی کـوه عظیمه! — مه له خولی نهځه وبـاسه مهځه وایه

«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له گفتـگو په خفه کېـږی — شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گـوره څـه بلـنـد مقـام دی د اخـلاص — چـه جهـان وایه غـلام دی داخـلاص
کهله ځمکې نـه اسمان‌تهځـاته گران‌دی — د اسفـر پـه پـوه گـام دی داخـلاص
چـه خبـر کـا مخلصا ن لـه علـم غیبـه — داهمـه وایه الهـا م دی د اخـلا ص
در واج د رسـم عمـر مـدام نـه وی — لـکـه عمـر چـه مـدام دی داخـلاص
بی اخـلاصـه حـلاوت د اسـلام نشتـه — که اسـلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب‌دی کـهمستان‌وی تـري چـاپېره — هرساقی څځه چه جـام دی د اخـلاص
څه عجب دی که همـای په دام نیـلی — هر صیـاد څځه چه دام دی د اخـلاص
درحمـان کـلام په داسبب شیرین دی — چه‌پی هر کـلام کلام دی د اخـلاص

« عبـدالرحمـان مهمند »

هرباغی بوزي بنده کـانـدي اخـلاص — هر بـی‌شرم‌شرمنده کـاندي اخـلاص
آب وتـاب‌پی عـالـمگیر لکه افتـاب‌شی — هرجبیـن‌چـه تـابنـده کـانـدي‌اخـلاص
هیـڅ پروایـی دحیوان پـه اوبـو نهشی — هغـه زړی‌چـه زنـده کـانـدي اخـلاص
هیڅ مقراض‌پی غوڅولی پـه خوله نهشی — هرپیوند چه پـائنـده کـانـدي اخلاص
هغـه کار چـه سحر گر کـانـدي پهسحر — تـرهغـه‌پی څوچنـده کـانـدي اخـلاص
سـمـد لاسـه زوړ کـافر دـلـو کـاا و — واسلام تـه خواهنده کـا نـدي اخلاص
دنفـاق له اهلـه ځـن ژغوره حمیـده! — پـه‌لبـاس بـهدي گـنده کـانـدي اخلاص

« عبـدالحمید مهمنـد »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرباغی او هر سرشوخه هر بی شرمه … همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکۍ نوم په عالمگیر لکه افتاب شي … مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپې تیاره به رڼا ورځ کا … چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بې پښو لره راتښی ملامت یم … که انسان له درنده کاندي اخلاص
« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه ـ راز په … هوښیار په خپه یی و ماته وایه!
هرچه هوښیار دی هنر یی دادی … خبره نه کا چاته بی ځایه
« خوشحال خټك »

دباد شاهانو په راز خبرمه شه … که پري خبر شي ځان ته غاورمه شه
رازیی دزړه په صندوق کښې وساته … په ښکا رول یی چاته لر برمه شه
« خوشحال خټك »

که چاته و کړي دزړه خبره … تا کبد پري و کړي چه وبی نغره
که دی خپل ځوی وی گمان پري مکړه … چه به یی نه کا چاته ظاهره
« خوشحال خټك »

که پخپایه زر کې نه وبنکی آواز … نه صبا د ځنې خبرو، نه شهباز
سکه لیه دي خبرېهسې معلومیږي … چه خپل صوت دی هر سړی اره غماز
دمنصور وحال ته گوره حال ئې څه شو … خدای دي فاش دهیچا نه کاندي پټ راز
درېغه دریغه که وروستی عقل دومی وای … دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه شي … دا دشعر دی رحمانه! که اعجاز
«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتې دیار له حقیقته … څوك دیار خبري کاندي واغیار ته
«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکلیو عام په وخت دخط شي … کم فوت سري لههرچا سره راز کا
« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای په ستا دمال حساب کاوه شي … خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدورته
«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی … په دانائی به یی د کار اغاز وی
نادان به هیچېری په داخبر نه وی … په هرهر کار به یی پخپایه راز وی
« خوشحال خټك »

زړه پخپایه مه را باسه و بازار ته … وایه نشی په کو څو دخلوت راز
«عبدالله بویلزی»

منصوز راز ظاهر او مسوئی ته وخوت … د خلا خبري کله په ملا شی؟
« دالپوري حافظ »

۱۲ـ زر:

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څکه‌څه‌چه د آسمان بنایست په‌زر دی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور،قوت،حرمت‌هوري‌دروه‌ی‌چه‌زروی
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښې

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی‌قمر زر
دهندو سره روان کا لښکر زر
دپادشاه‌په‌سرخوك كښېږدی‌افسرزر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال خټك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال خټك»

که‌هرڅومشکل کارونه در ته‌پېښ شی
ماچه ولیده خوازه دی په‌دنیا کښې

فکرمکړه چه‌آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال خټك»

که‌پټوی په‌اوریخ کښې‌هم‌ترمیاشتی‌امر‌تېری کا

همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
«خوشحال خټك»

زردی‌چه ز برمه دننگ وشرم کا
دیر گران کارونه‌په زر آسان‌شی

صحبت د هرچا و بیله گرم کا
زر په‌فولاد كښېږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال خټك»

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا

معدوم‌موجود کا موجود معدوم کا
زر په‌سندان كښېږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال خټك»

بادشاهان ښه‌دی په‌خوانو زر ښندی
زرسرداد واړه تو گو دیر گران دی

خوانان‌پرې ښه کا چه‌ورته‌سر ښندی
یویوی و ښندی نه‌یی هر یو ښندی
«خوشحال خټك»

زرپه بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار څکه ساتی زر
د نا دار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال خټك»

چاوماته نصیحت کړ چه زرښه دی
چه‌په‌گور کښې خزانې لری دزرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هرسړی‌چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی
په‌امثال یی دهغې مرغی مثال کړه
گوره مادهغه څرنگ ځواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویه ناد انه

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که‌یك تنهادی زوروردی
عاقبت ورځخه تار پتار لښکردی
په‌معنا بدر نگه بنځه سپین خادردی
چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پرې‌په‌بوه‌شی هرسړی‌چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

که هندوخخه انبار انبار مهران وی          په‌مهرانو به نبه نه شی مختصر دی
که په‌خره‌باندې‌دزروصندق بار کړی          خر به‌هیڅ پدانبه نشی خر خوخر دی
چه‌هنر یی دلویی ویئویه لاس کښې          دهغه وجود پارس شو واده زر دی
«خوشحال ختک»

لکه‌نوم یی دزهب وربانذې کېښود          چه‌دباد غوندې هردم کا گندرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه‌وی          په‌لحان مي ولید څه حال‌یی نه‌وی
که باز داواده هنر د ښکار لری          ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال‌یی نه‌وی
«خوشحال ختک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه ویئا کاندې چه‌یی وینه          دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی ویئا یی اوری          ددرهم خاوندان تل‌وی په ویاړونه
که‌درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی          پر ژړی یی وی په خړو پېژندونه
که‌پداي سونې(۱)وبولی خلق وایی          داوینا ده رښتیاینه له رښتو نه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره          نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه          ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه

درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه

«ابو محمد هاشم‌ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ه»

چه‌نبستکاره‌شی که‌څوی داحمدشاه‌ئی          ترتازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله پوپلزی»

* * *

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا          آئینه‌دې‌دخپل‌ځان‌حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلوپښو لاندې‌بناخونه          چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه‌نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی          چه‌یی نفس دخپل بدوته لیوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وته هوس کا          ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌پکښې پر بوځی دامثل‌دی؛          چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په‌خونه پېښ جنگ وقتال شی          چه‌هوس دچا دجنگ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شی بې‌مجاله          له‌غنیم‌سره به‌جنگ به کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کېږی بی خپلو          له‌لحده دااواز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې          زمانه به‌یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیڅ‌انده خپله کړې          بلکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونې : دروغ
(۲) جلال اوجمال دوه نوموته اشارت دی . «خادم»

۱۴ ـ وطن :

دوطن ونسي چندي اگر دی
که سرای ونورو وته سنگیر دی

درزي لاگزلري مقراض سوزن لري
کوچ یي اسان دی مشکل هيڅ ندی

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان وکړ په وينو
اوس په خه دوطن کاني بوټي ژاړم
بوناوکمي په دل لاکراووړله کوره
په محنتمي يوړياض جوړ کړپه دهر
شين فلک په خزاسورشو له هوسه
يو يارو په دکن نشته چه مي دم کا

خاوري يي واړه مشک و عنبر دی
کاني يي مانه واړه سره زره دی
« خوشحال ختک »

يوجمدر گوټي خوشحال خبرن لري
غم ديارا نو درد د وطن لري
« خوشحال ختک »

چه له ياره په ژړا ژړاجدا شوم
چه اتلک وته مي شاشو په ژړاشوم
درخصت سلام مي کړي تري جدا شوم
زاروجارمي دباغ ونه کړ خطا شوم
لامي گل بوی کړی نه ځني سواشوم
چه وړی جبل په مخزه ورته شاشوم
گرفتار په کنج وکاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وينودك شوځيگرونه
تاته را شه زړگي زماقارغ شي
که هرخومي ددنيا ملکونه ديرشي
د ډيلي تخت هيروم چه راياد کړم
در قيب دژوند متاع به تاريتار کړي
د«فريد»د«حميد»(۱) دور به ياراشي
که تمامه دنيا يوخوا ته بل خوايي

خوار غريب او بينوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
خو ژوندی يمه تر مرگه
مپشته خو نس يم په وطن کښی
نه دي هند شی نه دي نوم شی
چير ها رکښی کلا شيخ وای

بی وطنه نها پروت يم په غربت کښی
دهواداشنا په ستر گو لبده نشی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو

ستا په لاره کښي بائلي ځلمي سرونه
بي له تا مي انديښني دزړه ماروته
زماهير نشي داستا ښکلي باغو نه
زه د خيلي پښتو نخوا دغرو سرو نه
چه په نورو پښتانه کا گذارونه
چه زه وکاندم په هرلوري تاختو نه
زما خوښ دی ستاخالی تش دگرونه
(احمد شاه بابا)

خو وطنه ! ستا په خوا وای
چه وطن بر خه زما وای
هم هاغه آب و هوا وای
نه چه هند وانزه زما وای
هما غه پيد پيد پا وای
رزق الله او مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

نن له ماسره همدم د صنمغم ذی
که په خوب راته حاضر شي بس کرم دی
سلام بادرا رسوی منت يي تم دی
« اشرف خان هجری »

(۱) فريد : شيرشاه سوري ـ حميد : سلطان حميد لودين

پښتنې جونه دې زلفې باد ته نيسي
چه شمال يې بوې راوړي په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجري »

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړې
خو به خيال کړې په اطلسو د فرنګ
« پير محمد کاکړ »

نسيمه ورشه د « سرای » سواد ته
له هغه په افضل آباد ته
سلام مې وکړه په دواړه لاسه
د رود د پوارو ګل و شمشاد ته
« کاظم خان شيدا »

که ګذر په خير ابادو کړې نسيمه !
يادې کېږي د «سرای» د سيند په سيمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ور سره زما د لوري په خو تسليمه
اباسيند وته ناره وکړه په زوره
و لنډۍ ته و ينا و وايه حليمه !
ګونډې وي چه پيامې ستا سې جام روزي شي
په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
چه سرې اوبه دغره نښته په هند کښې
ترې توبه که واړه ډک وي له نعيمه
خدايه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې
داچه اوس ورځنې لرې دي دوه نيمه
هميشه به په هند نه اوسي خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزي له جحيمه
« خوشحال خټک »

نور جهان سقر شو باندې سرای دار القرار دی
کله به خوشحال دار القرار لره ور درومي
« خوشحال خټک »

د خوشحال دزړه خوښي نشي بې سرايه
خپل وطن يې په هر چا باندې کشمير کړه
« خوشحال خټک »

د هواد ياران مې هر زمان يادېږي
چه نې مخ په خوب کې وونم ويادم
«خوشحال خټک»

که په هند کښې چنبا ګل دی
تر دا ګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نه زده
په خوشحال دی تر فر خار ښه
« خوشحال خټک »

درزي لاګزلري پيا تې سوزن لري
يو جهدر ګوته ی خوشحال خبرن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هيڅ نه دی
غم دي يارا نو درد دو طن لري
« خوشحال خټک »

١٥ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
هر چه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
چه يې اوس به تو او لو نه مرېږي
همدا خپل دولت به و کايه تا شنده
« عبدالقادر خټک »

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
همدا ده که ته يې ګورې په صحي مسلماني
نيکانو سره زيست روزګار په مهر و محبت کړه
بدانو سره زيست روزګار هم بويه لساني
«خوشحال خټک»

په قوت به داسلام کړي
د کفار انکار غارت
« دولت لواڼی »

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یې و ښي

په مسلمو کښې خاصه مسلم هغه دی

## ۱۶ ـ آزادي :

وهرچاوته چه و گورم فریاد کا!
پهجهان بههیڅوك نهوی چه آزادوی
عقل وهوښ یې وسړی وته پیدا کړ

چهسړي شړومبی یې چښم پهوخت داوړی

دحاتم دسخاوت خبري مهکړه

کهیې تهپه منت مومې وایې مخله

دمغل منصب می پرېښودهسې خوښ یم
دانا دره عقیده لهکه زما ده !
دمغل وتهبههسې کار ښکاره کړم
آزادي تر باد شاهې لاتیري کا

چهنوکري کاڅوك ډېر گنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ماډېر لیدلي دی چهطمع نه لري

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که دعقل څه اثر لري و سر ته
په نظر دهغو خاوره سره زر کېږی
بې منته جام دزهرو څکلي ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دي فلك و چاته هیڅ بخښلي نه دی
که له خدایه دوي خلقوته مخ شی
همیشه به در په در گرزی ر ټلي
ددي سست بدن منت پهرحمان باندي

چه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خان انصاری »
چه یې وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

پوزه نهیم د جهان دی سیني څوږي
ځني عشق اندوه بنده کړه ځني لوږي
داچېچل داډل دپرانگ دی یادیږي
« خوشحال خټك »
بادشاهي داورنگ زیب زماه غړ که
« خوشحال خټك »
لایه دا کښې هم د طمع نیسا نه ده
« خوشحال خټك »
کهدچا پهباغ کښې بوټي د کیمیاوی
« خوشحال خټك »
لکه خلاص داو په بنده بند یوان شی
لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
چهراضي راځني روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال خټك »
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
چهڅوك په کور کښې خپله دنده کا
« خوشحال خټك »
ښه ښه سړی وی دائی گنده کا
په بادشاهانو پوري خنده کا
« خوشحال خټك »
کهخزان را باندي را شی که بهار
« رحمان بابا »
لاس پهسرمشه دهر گیدی ودرته
هرچه نه لري نظر و سیم و زرته
نه هغه چه منت بارشي و کوثرته
وایه حال د زمانې وبرا درته
چه یې نه دی را پېرودی ځني پرته
له فردوسه پهدې مخ شی و سقرته
داستو گنې ځای پهبیانه مومې چرته
چهله خپله دره تلی نه شی بل درته
« عبدالرحمن مهمند »

ژوندگی که خوك پوهیږی حضورده دی　　آینده و رفته کله دچا یاد وی

« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحمق سری دمدحې　　نه مې زړه مومی اندوه دده له ذمه

دزلفینو تر حلقو دې عذار و یئم　　که نسرین دې دی په زلفو کښ صنمه

« عبدالقادر »

چه مې شاکړه و ښا دښوو ته ښاد شوم　　چې د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم

اوس څه غم نکړم له غمه بې غم گرزم　　راضی من چه دازل دویش په داد شوم

چه مې طمع ددنیا ور ځنې بړې کړه　　هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم

ځان بازیږد ولی کاروندیزید کا　　له ښېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم

خدای مې بیا په کښ بندی مه کړه ترمرگه　　احتیاج عظیم زندان وه ترې آزادشوم

هم یې ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو　　چې پرمین په وروستنی ضرب دفرهادشوم

بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ　　شگفته لکه غنچه په دغه باد شوم

« عبدالقادر خټك »

چه خوښ له کمه دلگیرله خاره دی　　عشق له دو بینه بې اعتباره دی

نه شکایت کړم لچا ، نه شکر　　در دمی له یاره درمان له یاره دی

« عبدالقادر خټك »

له بیخونده آزا دی شوه دسر وې　　دگنی بخیر پخو بنده بندی بیا

« عبدالحمید مهمند »

وزی تېزی پروت بخپل پوز کی ښه ئې .　　نه په تخت دپاسه ناست دبل کره

دمنت پولاو دې زهرشه ! کې مومی :　　دمحنت سوی سکرك له سا کې سره

« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سر کوز د همت نه کا　　چه په داد ددهر پوه آزاده مرد وی

« اشرف خان هجری »

دافقیر دو لت په مرگه هسې هوس کا　　لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته

زنهار حلت په هسی ساعت ور کړه　　چه دنیا وریانې نه وی وکفن ته

« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری　　لاس له کار وباره وباسه که کار کړې

« عبدالرحمان مهمند »

هر گدای چه آزا دهوی ترې قربان شه　　باد شاه ن دشام دروم که دختن وی

ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی　　چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی

« عبدالقادر خټك »

۱۷ _ انسانیت :

پوې اصل سره دوه او پامند هیڅ　　خدای په خپه بنی آدم فریق فرینتو

« خوشحال خټك »

خلق نادیده دي په خبر و پسې تللي　　جار تر عاشقانو چه په حال دي پوهېدلي
دوه او یا مذهبه پکښې هومره قیل وقال　　واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي
د پېر دي کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه　　کل واړه که ګوري له الفه دي وتلي
سل بهي سل سیبه چه یې مات په یوه ځای کړي　　سل به بېل نه شي سره یو دي مالیدلي
واړه نور ذره دي هم د ننه هم د باندي　　هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختک یم د رندانو په مذهب کښې　　نور ویل مې نزده مختصر مې دي ویلي
« خوشحال ختک »

ب : بابېزه خویونه

١ ـ بدعادات :

بدعادت لاړ شي عادت له سري نه　　خدای دي نه کاندي په بد چار عادت خوك
« عبدالرحمان مهمند »

همېشه وي نرم چوب غذا د کرم　　شیدا مشه مرد خالي له سیاسته
« کاظم خان شیدا »

مرګي په سوزي دخس له نامردانو　　که همه لکه ایري آتش نسب وي
« کاظم خان شیدا »

٢ ـ بي پته خویونه :

یو چه ډېر خوري سوګندونه　　بل چه ډېر کاندي پورونه
آشنائي ور سره کمه　　دا بي پته دي خویونه
« خوشحال ختک »

٣ ـ کوزتیا :

تر هر شه بد کجئي خطر دي !　　کجي به نه کا چه دانشور دي
الف چه سم شي کجي یې نشته　　ځکه تر نورو حروفونو سر دي
« عبدالقادر ختک »

٤ ـ بدنیتي :

چه د بل په نامرادي کښې مرادغواړي　　دا سبب ګڼه د خپلې نامرادي
« عبدالحمید مهمند »

٥ ـ بدګوئي :

چواړي د حلال خور په نامه بولي　　له ښو خلقو بدګوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائي زه و پرهېزم　　چېري ې خپله بدي نکړي معینه
له هغو نه په رومبي ستا عیب څرګند شي　　چه هر چا و ته دي کړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غیبت تهمت وایه مه نېلبه　　مه د بد نامه په هېڅ بني آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېكاري :

د جمله بلاؤ سرتن اساني ده
فراغت د بېغمي په ملت كښ شته

لټ غوبي شي خرخاوه په قصا ; نو
خه اميد د بېغمي كړي ظالمانو !
« عبدالحميد مهمند »

٧ ـ ډېر احتياط :

كل وسواس له احتياطه پيدا كېږي

زه له ډېري هوښيارۍ نه لېوني شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

كمال د كفر تر ناقص دين ښه دى
چه كله د اشي كله هغه شي

يا درست گمان ښه دى يا درست يقين ښه دى
دا نا ته كله منذ بذبين ښه دى
« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصيات :

دزړه غلا په زړه كښ غم ده
هر سر دار چه په زړه غل شي

لا په تېره د سردار
ځان رسوا كا خلق خوار
« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظلم :

بازچه ويني د ځيگرخوري مرگ يې زروي
كه تر خه دى هم شراب د قهر نغره

له دي وېنو ځان ساته زما ځيگره !
ظلم وجور په چا مكړه ځيگر وره
« عبدالقادر خټك »

چه پېشوشي ډېره گېره يسي نرېلي
ماشي مر كاندي هاتي چه سره ټول شي
لبزي لبزي او به ټولې شي ملكې وران كا

ډېر په ظلم كښ څوك مه كوه گېر گوره
په يوه وجود سې كې مه گېره ډېر گوره
يه لږ جبر چېري نه شي دلېر گوره
« عبدالحميد مهمند »

باز كرگس شاهين جوړه تري په هوا شول
بلبلان طوطيان د فكر په تال ځالكي

چه ثابت د عندليب شو په گلعزار حق
خداى كړ پورته ا دي باغه د مالدار حق
« عبدالعظيم رانيزي »

خداى دي نكا چاته وازى د آزار خولي
په گر كښ بخته برج هسي ميدان كړي
د يوي خولې له آراره وو ير پېښه
چه پېري راشي د مظلوم د آه سيلي
چه قوصر د آه سر دور باندي لگي
چه اثر د مسيحا لري په دم كښ
ورځ به شي د غم شپه په هغه خلقو

دغه خولې ده په آزار كښ دښا مار خولې
يا توبو بدى خولې دى يا دو يار خولې
كه پسر دي دعا كا نه دي هزار خولې
كاله خاورو ايرو ډكي د مدار خولې
ور به نشي د هغه چا د پېر هار خولې
خوز وى دي هغه خلق پگ فتار خولې
چه پياب بى بد دعا كه هر سحار خولې
« عبدالحميد مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کېږدی څنګی لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

هسی خوښ د ظالمی په کار و لاړ دی

رسید لی تر مطلبه په خود نه یی

۱۱ قهر :
ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه

همیشه غوټه جبین یی ډك له کینه

د جهان کینې غصې واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته
په کینه په حسد هیڅ د چا و نشی

۱۲ ـ تعجیل :
دانا وران کاروته جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبری کړه دلبره

۱۳ ـ حرص :
په غم د نورو و غم ته ساز مه شې
سړ ی په طمعه د بل بند ه شی

۱٤ ـ کبر غرور :
دغه زور په چلوې تر کو مه پوری
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سبره ! هیڅ په تیتو و نو لو یی مکړه

په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وا یی مر گ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله بوبلزی »

جوړ کاروته خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »
له خپلواو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »
که سړی په وخت دقهر مرگ تر زړه کا
د جهان ننداري څکه دوه اېمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

په تعجیل سره نادان کاندي ـم کار کېږ
« عبدالقادر ختك »
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله بوبزی »

سیك و عالم نه به خپل آو از مه شې
د عا به دا کړم اخته په آز مه شې
« خوشحال ختك »

چه پوازې دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دېر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
ستا به هم دغه قسمت کاندي روزگار کېږ
« عبدالقادر ختك »

۱۵ ــ بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا په رنګ وبوی کښې

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي

۱٦ ــ طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
نور قیدونه و اړه سهل دی حمیده !

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
هسې چارې به حرص در باندې و کا

کهدي زړه وی چه بلهای شي طمعه پرېږده !

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
د هغه د شرم بو زه په مخ نه وی
لکه څوك لوبی په خپله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه هیڅ ن ختی نسل هغې
د هغو د عزت پښه د ه بنو نږدې اسې
تل دخواست لاس به یې نیولی دی کوشه کښې
د حاتم د سخاوت خبرې مه مه کړه

۱۷ ــ ریا :

در یا عمل مې طوق شو را تر غاړه

زر که ځکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مومند »

ته به و کا زه له یاده د بیوفا
« مرزا حنان »

هم هغه به په زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټك »

که پادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټك »

امو ختـه در باندې غل او کا سپر مشه
خو به غاړه دې د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مومند »

چه په خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحمید مومند »

عزت و سا ته په صبر که دا نا پسې
چه په هیڅ شوې نه وی بیا به وا پسې
« عبدالحمید مومند »

څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر خټك »

یاس له مخلوقه د حق انعام دی
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټك »

د سپی توب نامه حاصل کا په دا طمع
خاشاکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسې ما و ته ښکار پېښږي دا ستا طمع
هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
چه په دا زبېره له چا کا ندي بیا طمع
محمدي چه څوك كا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعې نشا نی ده
« خوشحال خټك »

لکه خپور شي په ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا
نور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج : نصایح

دا همه نا بوهی پیدا کیږی
پیر ځو، شه سلوك، نمانځنه، او بل عدل
کبر جن حریص بی زده چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنې
که طالع یی د دولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری یه زده کښې
که بی غوږ د دانشمند په نصیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تلی نشی
مختورن د دوارو کونو ندی ښه دی
نیکبختان به اندیښنه کا ندی د نیکو
په هغه هنر کښې تینګګ او سه خوشحاله

په دوستانو تلطف کړه خو په تماشی
د نمانځه تر قضا ګراند دا قضا د ه
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښې ګته کیږی
که حاتم غواړي درم کړی د مهرانو
خو بدانو سره بدشی هومره ښه دی
که دي سرځی کړدي مال ځی کړدي نورځه
په ظاهر بباطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی اخله
که آسمان دي درمری په خوله کښې ور کا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

خپل استاد و ماته ووي خو پندونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زده وی چه بدنه موي له چا نه

خر خشي دعوي نساري شر و شور
کړدي دا خویو نه شته څه غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
د هوښیار سری بهانه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

مبارك شه بادشاهی اری بهزده کښې
څه عجبه آګاهی اری به زده کښې
هر سړی چه تباهی اری به زده کښې
که دسعی کوتاهی اری به زده کښې
چه هر چاسره سپاهی اری به زده کښې
ګمراهان به ګمراهی اری به زده کښې
هر هنر چه سپاهی اری په زده کښې
«خوشحال ختك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمری په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډېر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی را حت
که دمرګی و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښې مه پرهیزده همت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

د شهوت په غوټه مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوک بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نرمي ملایمت کړه !
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه دا هومره
هغه کار چه په نرمی تر سره کیږی !
و هغو وته چه قهر کړي روا دی !
د هغو په مرګ ثواب ګټلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یې مږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه !
د پادشاه په مهربانه غلط مه شه !
پادشاهان چه په چا مخ کا نه بدی
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د بیلو یارانې خوره نه هغه پاستې
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه !
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه !
په هر کار کښې چه ډیر پېښ شی بیړه مکړه
په رښتیا که په دروغو وی سوګند مه خوره
د حرص سترګي مړي په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
د ښه دین د پاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیري در ځني پریکا
که دي وروروی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران نه یې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډک شی و دښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوی دی کورونه .
د ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
ټول جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
ګنډي وی چه پداخیل کړي د چازړونه
د بخچی دننه ښه دی خپل رختونه
چه په باغ کښې دي خربزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خویونه !
چه پې سوځی له شامته غاړي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښارونه
د رستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
د مارانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځني تښتی په مدکونه !
زورور په لږ ګناه وهی سرونه!
و سپیندو وته تل ځه شی بندونه !
چه په هر لوری یاران لری زرګونه
چه بی خوری د نوکری په خوشرطونه
غلیمان ور له بس دی خپل خویونه
د ګله پر ؛ ونه خوازه لری ګلونه
په تلوار؛ سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډېر خوری سوګندونه
چه په کور کښې دي انبار شی نعمتونه
نه حمار یې په تا اېښلی کتابونه
نه پیدا چه پرې لوټې پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم نور ښه وی مخونه
چه په لاري تر تا تېر دروي ستاملونه
په خیېروی کازه کړه ور مېږونه
د هغو د ناستی تښته په ګروهونه !
بیا هغه چه دي په ځای وی له که ترونه
د هغو خونو نه ځی پر کتونه
مه عمل کوه په ... دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه!
لږو ډېر په زبان مه راوړه عمونه

په هر کار پسې لاس پوری په ځوانۍ کښې — که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځوانۍ کښې چه د کار نه لاسه ووزی — په پیری به دی ونه رسی لاسونه
همیشه او سه خو له پښیمانه لکه ناوي — چه ضرور شی هاله و کړه دوه حرفونه
تر هغه په نا معقول په جهان څوک وی — چه همیش په خندا سپین اری غاښونه
که خبره که خدا کړي ځکې ځکې ! — هره چار تر حساب مه کوه پرونه
که دي زړه وی چه پټ عیب دي ښکاره نه شی — چا ته مه شماره د خلقو پټ عیبونه
که له تانه په قوت د متو زیات وی — له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه تواڼیږي د هغې خبري لاف کړه — او که نه په دروغ مه وهه لافونه
چه د ښمنو کښ د جنګو خرخشې وی — ته بی غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دی واوریدل چه بیا وبله روغ شول — نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو نه بتر دی هغه څوک دی ! — چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دواړه کونه دی نما نځلی — چه په ورځ کا عدل وداد به شپه نمځونه
چه د زړه په تمامین د هغو ناز وړه — تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه
د اصیل شیوه خپل اصل نه ابا س دی — په زربافو کښ پادم وی پامری و نه
« خوشحال ختک »

په پیری کښ چه هوس دی دناب کړي — بیهوده گمان په صبح د مهتاب کړي
داسته ګناه کوي توبه و کاږي — لکه بت هسی په غټو ستر ګو خواب کړي
علم و کړي بیا عمل ور باندي نه کړي — لکه طفل هسي لوبې په کتاب کړي
په شپه په روت بی د مغان په میخانه کښ — او د ورځې مخ په لوری د محراب کړي
له خالقه دي نه شرم نه حجاب وی — له رحمان ګوښه ونیسي حجاب کړي
« عبدالرحمان مهمند »

کړند ګلو کړه چه سینه د ګلزار شی — اغزی مه کره په پښو کښ به دی لاړ شی
ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه — چه هم دا غشی به ستا په لور ګذار شی
کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښ — چېري ستا به د کوهی په غاړه لار شی
ته چه هر چا ته پخوارو ستر ګو ګوري — لا بد و مبی به ستا صورت ترخاور وخوار شی
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی — هر چه بل آزار وی هغه آزار شی
که ته نه کوی نظر د چا و عیب نه — هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شی
د متان کړه لوړه مځکه باندی مه کا — سر کوزی کوه چه پن دي مرغزار شی
د مات لوښی او از کله ثابت خیږي — د هر چا عمل څرګند پخپل ګفتار شی
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره — حق باطل سره جدا کړه مهٔ نې نغاړه
مدا ماچه لکه باز غوښې د قام خوري — عاقبت به شي بندی په پښو به غاړه
چوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئې — تن صبا دی ابا دی و ینم ویجاړه
فکر وکړه وخت کو تاه دی وبه لو یږي — د دنیا بر لاندې پاڼې باندې ولاړه !
« مرزا حنان »

تن چه صبح‌دی رو شانه لار صحیح کا — نا گهانه به دا صبح شب تار شی
لږ ه ني مه ګڼه هر څو که ګناه لږوی — چه لږ لږ وسره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه‌دی ته‌به ورسره وکړه — هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و ښه و ته آزار د بدو رسی — هر چنجی و نرم چوب و ته دوخار شی
هغه زده به له طوفانه به امان شی — چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دي بدله لاسه نه کا او که وی هم — در حمان دي له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اي مدام د بل په کمه روا داره — نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مه ږده پر عاجز میږی په ظلم — نه چه دغه پښه دی و مبتلی له مار ه
هر چه‌وډی صباح‌بي راوډی‌لږ که‌ډیروی — دا چه نن یي پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی — چه رانده پدا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ندبي بسخته! — که دي مال که‌دی فرزند دی نایکار ه
دا جل صبا د طلب د استاد روح کا — ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښی — دی بهتر له هغه ګنجه بي شمار ه
« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا — که دمهد په‌شان ورك دلخان آرام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه — اسا نه ننده د سر بنند نه
مصلحت مه‌پر یږده د خپله لاسه — هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال ختك »

همیشه‌وائي‌چه خدای مي‌پیبږ ندلی‌یه‌یکی‌دی — که دی خدای‌وی پیبږندلی‌مینه مکړه‌یه باطله
یه‌خیل‌حسن غره‌مه‌شه که‌یه‌حسن‌لکه ګل‌شی — زمانه به‌دی خېره یه‌یوڅو ورځي کا زائله
« خوشحال ختك »

د چاوخوان ته خالی کتل مکړه — که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور نحی هسی ویل مکړه — چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال ختك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا — یا طبیب وتا ته بدي کا شکري
یه جمعه به و نمانځه و ته و نوزي — له شکرو به هم ګرزي اري اري
یه قران کښي چه شراب‌دی‌منع‌شوی — ته یی وايي لکه پی د مور نغري !
« خوشحال ختك »

عاقبت به‌یی زده تر لاسه کړي حنانه! — لکه زلفي د نګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری برېنده تېرو تورو          هسې ځېل سر له ښېرو د سحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی          په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا          سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه          وښو بدو خوشبویي ور ڪوه ګل شه

تعلق په تېرېد و نی هوس مه ڪړه          په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

خوك چه نرم وي ل کا عمل يي ګوره          تګان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټک »

ښتن مومل دی          اوس مویر غل دی          هواد د بل دی

غازیانو ګوری،          ښتن مومل دی

توري تېري کړی،          د ښن مو پرېکړی،          منګلی سري کړی،

خله به تښتو          ښتن مومل دی

که ټینګه کړو زړونه          بر بري يونه          چه زمری يو نه

اسلام راشخه دی          ښتن مومل دی

غازیانو راشی،          تول شاؤ خوا شی          دشهاب په ملا شی،

دښن موغوځ کی،          ښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

--- • • ◆◆◆ • • ---

# دريم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ ميړانه او توره:

مرد به نه شي په ګفتار  خو پيدا نه کړي کردار
چه دي وښکنځي مرد نه يې  که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دی  د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري نه  چه نه عيب وي نه يې عار
چه عزت ورځخه نه وي  هغه مرد نه وي پکار
هم مهره لري هم زهر  ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي  تر هغو ځو اناتو جار
مرد به غم دخپل هنر کا  نه د زر نه د دينار
مرد به غم کا دخپل شرم  د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا  مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبري ګوره  لعل و در پيبي په تار

«خوشحال خټک»

يا د سپينې توري مرد شه يا عاشق شه  چه يا د ښځي په بدلو په سنډ رو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي  چه بر ښښا د سپينو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو  په نامرد، شرم آسانه دی په مرد ګران دی
مست هاتيان خوني زمري توري وښکلي  که د سروبره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي تـه په دا دنيا هميشه پاتي  په احتياط احتياط کښې دهر خلق طوفان دی
که د ځان که د ايمان بدخوامي دهردي  ما به خدای باندی سپارلی ځان ايمان دی
ننګيالي چه د اخلاص توره په لاس کا  دهر اښکري د همت بوري کاروان دی
په ښادي سره شريک دي اولسونه  غم يوازي د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دی نه شي باندي بوره  چه مهر و نه د کار زار دي
څوک چه شته تر شر قه غر به  د تورزنو خدمتګار دی

«خوشحال خټک»

د رست پښتون تر قند هاره تر اټکه  سره يو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسي وخت، چه وخت د نام وننګ دی  دا بي ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نابوه دی  بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دی  که په پوهه پښتانه وای څه هوښيار!

«خوشحال خټک»

مېړنو له تښتېده شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماړوه جلب
« یونس »

څه سړی څه یې تدبیر !
که جهان شي تیره توره
بې تقدیر به نه مري
بې اجله مر گې نشته
لکه کار د مړ نې دی
د غازیانو شهیدانو
کل گټنه ده د توري
مړ نی دی چه یاد پېږي
چه په دروغ د توري لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو پېړیو پوري
دا د ځان ستاینه نه ده

هم هغه شي چه تقدیر
ستا په مرگ شي خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هنه مکره تقصیر
هسې کار نه دی د پیر
پر وا نشته ده د سعیر
که کابل دی که کشمیر
په سند ر و هم په ویر
د هغو نه یم د لګیر
کال په کال خلق خبیر
و اړه مړه په تیغ و تیر
حقیقت وایم په څیر
« خوشحال خټک »

چه په توره یې ځواب ور کړی مردیده
که وجود دی خوك آزار کاندي په چوب
« خوشحال خټک »

چه مېین په وسله نه وی
لاس دی سره کا ستر گې توري
مرد دی نه وائي خپل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټک »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځکښ
ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال خټک »

د زنانو په حساب دی مر دان مشه
شړی ور پښتون به سل په ډ که یوسی
چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بفر گ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټک »

د بلا تره د اختیار توره په لاس کښې
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
وقضا و ته تسلیم په شان دمړه یم
په سپین زړه که د باران سپینې او به یم
« خوشحال خټک »

چه جنگیالی وی دولت هغه مومی
دا د واړه تو کسې سره تړلی دی
چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټک »

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومی
دا کا رمې خوځله په ځان را غلي
چه بې ننګی واخلي دلبر هغه مومی
له سر چه تېر شي ظفر هغه مومی
« خوشحال خټک »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی    دمړو و جنګ ته نه د رومی عورتې

« مرزاحنان »

چه نری شی میاشت آخره شپه را خیژی    پتوه ځان له عالمه په افلاس کښې

شې ورښمني جامی خوی دار تیښو دی    دمیره مړانه نه ځی په کرباس کښې

له یارانو اخلاص تلسلی دی حنا نه !    گذران د زمانی شو په لباس کښې

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه    یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه

له میدانه تښته کار دی د زنانو    مړ د به نه تښتی له غشی له تفنګه

چه د تورو به بر ښنا یی وار خطا شی    مور یی مه وای په هغه غولا تی انګه

د ضرور په ورځ به تښته له گیدړ کا    چه همېش کاندی خوښی له نای وچنګه

د عزت صدقه سر د سر د نیا ده    مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی    ښه هغه چه یی ښېښه د زړه صفا ده

چه عمل یې د نیکی وی مېړه هغه    که اغوستې یې گډ له د خامتا ده

«احمد شاه بابا»

۲ ــ ننګ اوناموس :

چه ننګ کاننګیالی دی ورته اېښې دی دوه کاره    یا کام د ننګ حاصل کا یا ددوی مینه سپېرېږی

«خوشحال خټك»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحال له !    که یی نر وینی په ستر گو هم ماده دی

«خوشحال خټك»

کاشکې ځوان دیښتانه په ننګ کښ مړوی    نه چه گور له روان شوم له تلتکه

چه دقام به ننګ کښ و مړ هغه ځو یه    په عالم کښې دخپل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال خټك»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی    پښتانه نه د پر دی په غرو نه په سمو نه

چه ښور وا خوری دمغلو واړه سپی دی    د سګانو په خو له څه اخلم نو مو نه

گور به هم په ژړا سر کړم که یی ور ودم    زه خو شحال د زړه دا هو مړه المو نه

« خوشحال خټك »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی    و به نه ساتی څوك خپل ننګ و ناموس

« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شی    په حکمت که ارسطو و افلاطون یم

د گلدر څو په هوس شپې رنو مه    امو خته لکه شبنم په دا شبخون یم

تلخ ویل پر رقیب څو ڪوی وما ته    آخر زه شمس الدین ننګ ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو وا نخلی لــه غلـــمه انتقا م
مرد نه خوب کا نه خوابده کانه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یی نشته
د هغه سړی به نــه وی احترام
« خوشحال ختـك »

نام وننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو
انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه څی
حال یی ورځ پهورځ زبون دیستا پهغم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیـالی دی دا دوه کاره
یا به و خوری ککری یا به کامرانشی
« خوشحال ختـك »

ننګیالی د ننګـ د یارزه
په هر څه لګوی اور
سر په باد د سړی پرېوزه
چه یی نه وی ژو ندون نور
چه په نام و ننګ اړ نه وی
که تل ژوی مخ ئی تور
د جهان بلا دې کل وی
څو دي نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال ختك »

سر په دار لاك شوی ښه دی
نه لاك شوی په پیغور

۳ ـ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی
څکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!
وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم
که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما څه بې اعتقاد ه عقیده ده
چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مړ د چه نه وی وینا معرکه
په ده به نه شی در غلـه سمه
چه یوی زړه وی یوه خبره
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال ختـك »

٤ ـ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم د پلار له بنده
را ته یی ووې زما فرزنده !
لذت دور کړي تر ساتل ډیر دی
خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر ختك »

دلو یی په مقام به ها له کښېني
که د ور کړي دمراني په وزرځي
«عبدالقادر ختـك »

---

(۱) ویی : لفظ ، کلمه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیل ځان دیاره یم درم اسراف دی      چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر خټك »

تواول کیږول دزرو ښځي کاندي      ور کول بازل یی خوی خصلت دنرو
« عبدالقادر خټك »

چه شجاعت کا دنیا په ککف لری      نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه      هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر خټك »

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په گلو      ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
« عبدالقادر خټك »

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه      چه تو ره لری د تور ي خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی      چه احسان تري پیدا کیږی کان هغه
چه ئی ته په گړه وخوري حیطه شی      د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لیچو      چه ئي توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کیښ      چه د خدای په یادو درومی آن هغه
چه دخوك دوړ اندی روستوځی داخه شی      په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه وایه خوشحاله !      چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان خټك »

که ښتو ن شی گدا گر د کل جها ن      غگ ئي تلملی دږ ودی دی تریو نان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته      لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهر در ته مرزی شی خوپه کور کیښی      له ادبه ځان میر ئی کړی تابه خا ن
ده رچا ځای له چه ور شي بي تکلیفه      کیږو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضوانی »

٥ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم      ماد هسي د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لاده هله تیغ ر غیږ ی      پهوار وارچه ځني لاړ شی و سنپخړی
« خوشحال خټك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم      خوار هغه چه ئي لهما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده      چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئی ماغزه په قرار ندی      چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو به ځیگر کښی ئي گولی دی      که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښی به لرزه پر یوزی له کته      چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو ري هغه زه یم      چه مي داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ      ځای په ځای ئي ښتانه وته فلنگ دی
ځنی څه اوپه دعوی لرم په زړه کښی      ولي څه کړم چه پښتون واړه بي ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه
ګڼه تېر تر فریدونه مې فرهنګ دی
که به تخت دپاچه کښېني هم ملنګ دی
« خوشحال ختک »

چه زما د دروېزې په کچکول تحير شي
دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحميد مهمند »

هسې رنګه له دې ځا له تنها خوښ يم
چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ يم
تر هغه چه خشك طينت د صحرا و يښم
لکه موج او اره په دريا خوښ يم
چه شاړه بې له اقمې و زې مګس شي
کاله زه د هغه خوان په صلا خوښ يم
چه په شان د آفتاب نده ګرم رويه
ستا په سر که په سايه د هما خوښ يم
چه په قيد بې د قفس کړم لکه زرکه
تر دا هسې خنداز زه په ژړا خوښ يم
که پيدا ر لکه تصوير له خوا به نه شو
په دا حال له خپله بخته شيدا ! خوښ يم
« شيدا ختك »

جهان شرم نام و ننګ دی
که دا نه وی جهان رنګ دی
چه وفا و رخه نښته
ګل به څه کړي چه خوشر نګ دی
چه يې عشق تر سره کړی
نور خوك نشته خو پتنګ دی
په ښا غليو جهان آرت دی
په غرو و ليو باندی تنګ دی
چه خوشحال باندې ناستی کا
دا بو زی ندی او رنګ دی
« خوشحال ختك »

اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه سره زر وو
په خپل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار
اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه زمری وو
زه هم نه يم د ګيدړو په قطار
« خوشحال ختك »

د حاتم غوندې مې خپل و حشم نشته
په عطا کښې له حاتمه برابر يم
سخاوت مې په تقليد په رسم نه دی
زه له ځايه د سخی ښا باپسر يم
په وګړی مې خبر ې د مردی شته
په همت کښې په هر لوری ناموريم
« خوشحال ختك »

هر چه کاندی نوکری د بادشاهانو
خامخا به د دربانو منت بار وړی
« عبد الرحمان مهمند »

مطيع الله له موره پلار ره هم سوال مکړه
سل بلا شر مندګی دی په سوال کښې
« مطيع الله پير خيل »

درو يزه له درويزه ګرو ناکسی ده
د فلك کچکول ته مه ښسه , کچکول
چه رښتيني سيده صاف نه وی حميده !
بولی بولی عا فلان دا هسې بول
« عبدالحميد مهمند »

هسې فخر شمس الدين کاندی په عشق کښې
لکه فخر کړی پښتون په خپل نسب
« شمس الدين کاکړ »

دروغ ويل هغه کاچه يې وېره وی يا طمع
خوشحال په دا لا نه دی حق به وايي خويي سرشته
« خوشحال ختك »

روحي ګلونه (۱۰۲۰) مخ سردار محمد : ح : سراج الدين : ر : محمد امين : ن : رجب علي : ه : اخراجيه پښتو ټولنه ۲۱-۲-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**